د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# رياضي

## دوهم ټولګی

۵ = ۵

۶ < ۷      ۴ > ۳

۵ − ۳ = ۲      ۲ + ۳ = ۵

Ketabton.com

۴ ÷ ۴ = ۱      ۴ × ۱ = ۴




د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري.
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سرغړونکو سره قانوني چلند کيږي.

ISBN 978-9936-25-159-5
9 789936 251595 >

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# رياضي

## دوهم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

## لیکوالان:

سرمؤلف عبدالکبیر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي د دیپارتمنت آمر.

سرمؤلف نظام الدین د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي د دیپارتمنت غړی.

## تایید او مطالعه:

## ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرګو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

## پوهنې وزارت:

شاه آغاسي د ښوونکي د روزنې علمي غړی.

ژباړونکی: سرمؤلف نظام الدین.

محمد عزیز تحریک د پښتو دیپارتمنت آمر، ادیتور.

## د کابل ښار د پوهنې ریاست:

عبدالکریم د استقلال د لیسې استاد.

## د محتوا، دیني او سیاسي فرهنګي برخو د څېړنې او بررسۍ کمېټه:

۱ - دوکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.

۲ - محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس

## د تدقیق، تصحیح او څارنې کمیسیون:

دکتور عبدالغفور غزنوي د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین- د کمیسیون رئیس.

د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.- غړی

سید محمود خلیق د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی- غړی

**کمپوز او ډیزاین:**

حمیدالله غفاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی
دا عزت د هـــر افغان دی

کور د سولې کور د تورې
هر بچي يې قهرمـــان دی

دا وطن د ټولو کـور دی
د بلوڅـــو د ازبکـــو

د پښتـــون او هزاره وو
د ترکمنــــو د تاجکــــو

ورسره عرب، گوجــر دي
پامېــريان، نورستانيـــان

براهوي دي، قزلباش دي
هم ايمـــاق، هم پشـه يان

دا هيـــواد به تل ځليږي
لکـــه لمــر پر شنه آسمـان

په سينــه کې د آسيـــا به
لکـــه زړه وي جــاويدان

نوم د حق مودی رهبــــر
وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزیر پیغام**

**گرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه گرځیدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فهرست


| ګڼه | عنوانونه | مخ |
|---|---|---|
| | **لومړي فصل: له (۱-۱۰۰) پورې د عددونو شمېرل او ترتیب کول** | |
| ۱- | د عدد مفهوم ................................................ | ۱ |
| ۲- | متناوب شمېرل ( دوه، دوه،پنځه، پنځه.. زیاتول ).......... | ۳ |
| ۳- | دعدد دمفهوم تمرین ........................................ | ٦ |
| ۴- | تر ۱۰۰ پورې د عددونو ترتیب او پرتله کول ........... | ۸ |
| ۵- | تر ۱۰۰ پورې د عددونو ترتیب ......................... | ۱۰ |
| ٦- | د متناوب شمېرلو مشق او تمرین ..... .................... | ۱۱ |
| ۷- | مخ کې، وروسته، منځ کې، زیات، لږ ..................... | ۱۲ |
| ۸- | توصیفي یا ترتیبي عددونه ................................. | ۱۴ |
| | **دوهم فصل: له (۱-۱۰۰) پورې د عددونو مقامي قیمت او عملیې** | |
| ۹- | د مقامي قیمت مفهوم ......................................... | ۱۵ |
| ۱۰- | د عددونو جمع او تفریق تر۹۹ پورې .................... | ۱۷ |
| ۱۱- | د جمعې په عملیې کې د بدلون (تبدیلۍ) قانون ............ | ۱۹ |
| ۱۲- | د جمعې د درېو جزو جمع کول ............... .... ...... | ۲۳ |
| ۱۳- | تفریق ........................................ . .......... | ۲۵ |
| ۱۴- | تفریق عبارتي پوښتنې ...................... ............ | ۲۷ |
| ۱۵- | دجمعې اوتفریق ترمنځ اړیکې ............................. | ۲۹ |
| ۱٦- | دجفت اوتاق ترمنځ اړیکې ................................ | ۳۰ |
| | **درییم فصل: د دوه رقمي عددونو جمع** | |
| ۱۷- | د یوه رقمي عدد جمع کول له دوه رقمي عددونو سره چې حاصل ولري. | ۳۵ |
| ۱۸- | ددوو، دوه رقمي عددونو جمع کول چې حاصل ولري ........... | ۳۷ |
| ۱۹- | دجمعې د درېو جز جمع کول چې حاصل ولري.......... | ۴۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورم فصل: د دوه رقمي عددونو تفريق**


٢٠- له دوه رقمي عدد څخه د يوه رقمي عدد تفريق كول چې په هغه كې پور (قرض) اخيستل دي ............................................................ ۴۴
٢١- له دوه رقمي عددونوڅخه ددوه رقمي عدد تفريق (د پور اخستلو په صورت كې)۴٦
٢٢- د جمعې او تفريق د عمليو آزمويل د يوبل په واسطه......... ۵١
٢٣- د تفريق د عمليې آزموينه .................................. ۵٢
٢۴- د عددونو جمع كول د چوت په واسطه .................... ۵٣
٢۵- د عددونو تفريق د چوت په واسطه ......................... ۵۵


**پنځم فصل: له (١٠٠-١٠٠٠) پورې د عددونو لوستل او ليكل**


٢٦- له (١٠٠-١٠٠٠) پورې د عددونو لوستل او ليكل........ ۵٧
٢٧- لس ګوني (لسيز) اوسلګوني (سليز) ..................... ۵٨
٢٨- سليز، لسيز او يويز ..................................... ٦٠
٢٩- تر ١٠٠٠ پورې د عددونو مقامي ارزښت ................ ٦٣
٣٠- مخ كې، وروسته، منځ كې ................................ ٦٧
٣١- د عددونو پرتله ........... .......................... ٦٨
٣٢- د عددونو ترتيب نظر په مقامي ارزښت سره ............. ٦٩


**شپږم فصل : د درې رقمي عددونو جمع اوتفريق**


٣٣- د خو سل ګونو جمع كول ....................... ...... ٧٢
٣۴- د يوه درې رقمي عدد جمع كول له يوه درې رقمي عدد سره چې د يويز اوسليز رقمونه يې صفر وي.................................................. ٧۴
٣۵- د درې رقمي عددونو جمع كول ...................... . ٧۵
٣٦- د درې رقمي عددونو جمع كول چې حاصل ولرې........ ٧٧
٣٧- د درې رقمي عددونو تفريق د قرض(پور) اخستلوپرته....... ٨٠
٣٨- د درې رقمي عددونو تفريق په پور(قرض) اخستلو سره .. ٨١

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۹- د یوه درې رقمي عدد تفریق د یوه درې رقمي عدد ځخه چې یویز او لسیز یې
صفر وي . ........................................ ۸۴

اووم فصل: د عددونو د ضرب او ویش عملیې

۴۰- د هغو عددونو جمع کول چې مساوي اجزاوې ولري (تکراري جمع) ۸۹
۴۱- د ضرب نښې ...................................... ۹۱
۴۲- د کارتونو جوړول...................................... ۹۴
۴۳- په ضرب کې د بدلون خاصیت ............. ......... ۹۶
۴۴- په عمودي شکل ضرب کول .............. ......... ۹۸
۴۵- د عبارتي پوښتنو په حل کې د ضرب د عملیې کارول ........ ۱۰۰
۴۶- د شکلونو ځخه په کار اخیستلو سره د ضرب ښوونه..... ... ۱۰۱
۴۷- د یوه رقمي عدد ضربول په دوه رقمي عدد کې...... ۱۰۴
۴۸- د شکلونو په کار اخیستلو سره د ضرب ښوونه .... .. ۱۰۷
۴۹- د ضرب په عملیه کې د (۰) صفر خاصیت ........... ۱۰۸
۵۰- د ګروپونو جوړول .......................... ....... ۱۰۹
۵۱- د مساوي ګروپونو جوړول ................ ........ ۱۱۱
۵۲- ویش ............................................... ۱۱۳
۵۳- د ضرب او ویش ترمنځ اړیکې (رابطه)............. ۱۲۰
۵۴- د یوه عدد وېشل په خپل عدد باندې .............. ۱۲۱
۵۵- د یوه عدد وېشل په (۱) باندې ..................... ۱۲۲

اتم فصل: د اندازه کولو واحدونه

۵۶- غیر معیاري واحدونه ............................. ۱۲۳
۵۷- معیاري واحدونه (متر، سانتي متر او ملي متر) ..... ۱۲۴
۵۸- د ټوټه خطونو د اوږدوالي اندازه کول د خط کش په واسطه ۱۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نهم فصل: هندسه**

۵۹- د هندسي شکلونو پیژندنه ...................... ۱۲۸

**لسم فصل: د کسر پېژندل په عملي توګه**

۶۰- په هندسي شکلونو کې کسر ...................... ۱۳۳
۶۱- د یوې کسري برخې ښوونه ...................... ۱۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

# له (۱–۱۰۰) پورې د عددونو شمېرل او ترتیب کول

## لومړی لوست

## د عدد مفهوم

هدف: د عددونو د شمېرلو، لوستلو او لیکلو تقویت.

| ۰ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| صفر | یو | دوه | درې | څلور | پنځه | شپږ | اووه | اته | نه | لس |


______


______


______


______

په لاندې هرچوکاټ کې څو شکلونه دي؟







______ هندوانې ______ کتابونه ______ څوکۍ ګانې

______ مڼې ______ پنسلونه ______ توپونه

**لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:**

۱ – کوم ډول میوه زیاته ده؟ هندوانې مڼې.

۲–کوم یو یې لږ دي؟ پنسلونه توپونه.

۳ – کوم یو یې ډېر زیات دي؟ څوکۍ ګانې کتابونه مڼې

۴ – کوم یو یې ډېر زیات دي؟ کتابونه څوکۍ ګانې پنسلونه

۵ – ستاسو په ټولګي کې څوتنه نجونې دي؟ ____________

٦– ستاسو په ټولګي کې څو تنه هلکان دي؟ ____________

۷– کوم یو یې د هغو ښخه لږ شمېر لري؟ نجونې هلکان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:**

په هر چوکاټ کې د شیانو شمېر حساب کړئ، اووروسته د لارښود په ډول کار وکړئ.

۱– د لاندې چوکاټ په سپینه برخه کې د رسم شوو شکلونو په ډول لږ شکلونه رسم کړئ او ووایاست چې ټول څو شکلونه دي؟



۲– د چوکاټ په سپینه برخه کې د درکړل شوو شکلونو څخه زیات شمېر رسم کړئ اوهغه ټول حساب کړئ او شمېر یې ولیکئ.



۳– د چوکاټ په سپینه برخه کې د درکړل شوو شکلونو سره مساوي شمېر رسم کړئ. ټول حساب کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.



۴– د خپلې خوښې یو شکل چې له ۶ څخه زیات خو له ۱۰ څخه لږ وي په خپلو کتابچو کې رسم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم لوست

## متناوب شمېرل ( دوه، دوه، پنځه، پنځه.... زياتول)

هدف: په دې لوست کې زده کوونکي بايد متناوب شمېرل زده کړي.

۱- د خپلو ټولګيوالو له سترګو څخه په کار اخيستوسره ۲،۲ زيات کړئ او عددونه يې وليکئ.



۲ ۴ ۶ ___ ___ ___ ___ ___ ___



ټولې___ سترګې ___ ___ ___ ___

څوګوتې؟

۲- د خپلو ټولګيوالو لاسد ګوتو د ۵ په زياتولو سره عددونه په لاس راوړئ او ويې ليکئ.



ټولې... ګوتې

۵ ۱۰ ۱۵ ___ ___ ___

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ښي خوا څخه کیڼ لوري ته کوم عددونه چې پاتې دي په تشو ځایونو کې یې ولیکئ.

۱- ۲، ___، ___، ۵، ۶

۲- ۰، ___، ۲، ___، ۴

۳- ۴، ۵، __، ۷، ____

۴- ۲، ۴، __، __، ۱۰

۵- ۱، ۳، __، ۷، ____

۶- ۰، ۳، __، ____

له ښي خواڅخه کیڼ لوري ته تش ځایونه د مناسبو عددونو په واسطه ډک کړئ.

۱. ۵، ۴، __، ۲، __.

۲. ۱۰، ۹، ۸، __، __، __، ____

۳. __، ۶، ۵، ____، ۳

۴. ۱۲، ۱۰، ____، ۶، ____، ۲

۵. ۱۱، ۹، __، ۵، ____

۶. __ ۱۰، ۷، ۴، ____

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:**

**۱- لاندې جدول خپلو کتابچوته نقل او د حل شوي مثال نه په کار اخيستو سره پوښتنه حل او رنګ کړئ.**

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ٦ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۴ | ۱۵ | ۱٦ | ۱۷ | ۱۸ | ۱۹ | ۲۰ |
| ۲۱ | ۲۲ | ۲۳ | ۲۴ | ۲۵ | ۲٦ | ۲۷ | ۲۸ | ۲۹ | ۳۰ |
| ۳۱ | ۳۲ | ۳۳ | ۳۴ | ۳۵ | ۳٦ | ۳۷ | ۳۸ | ۳۹ | ۴۰ |
| ۴۱ | ۴۲ | ۴۳ | ۴۴ | ۴۵ | ۴٦ | ۴۷ | ۴۸ | ۴۹ | ۵۰ |
| ۵۱ | ۵۲ | ۵۳ | ۵۴ | ۵۵ | ۵٦ | ۵۷ | ۵۸ | ۵۹ | ٦۰ |
| ٦۱ | ٦۲ | ٦۳ | ٦۴ | ٦۵ | ٦٦ | ٦۷ | ٦۸ | ٦۹ | ۷۰ |
| ۷۱ | ۷۲ | ۷۳ | ۷۴ | ۷۵ | ۷٦ | ۷۷ | ۷۸ | ۷۹ | ۸۰ |
| ۸۱ | ۸۲ | ۸۳ | ۸۴ | ۸۵ | ۸٦ | ۸۷ | ۸۸ | ۸۹ | ۹۰ |
| ۹۱ | ۹۲ | ۹۳ | ۹۴ | ۹۵ | ۹٦ | ۹۷ | ۹۸ | ۹۹ | ۱۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم لوست

هدف: د عدد د مفهوم تمرین.

د هرلیک ښي خواته یو عدد لیکل شوی دی د هغه په شمېر دایـــرې رنګه کړئ او د هغو دایرو شمېر چې رنګ شوې نه دي کیڼې خواتـــه ولیکئ د حل شوي مثال څخه کار واخلئ.




د هرې کرښې ښي خواته یو عدد لیکل شوی دی د هغه په شمېر شکلونه رنګه کړئ د شکل نوم واخلئ او د هغو شکلونو شمېر چې رنګ شوي نـــه دي کیڼې خواته ولیکئ. د حل شوي مثال څخه کار واخلئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:**

**د شيانو څخه د لس ګونو ګروپونو جوړول شمېرل آسانه کـــوي او دا يو ډول تفريح ده.**

**له شيانو څخه لس ګونه ګروپونه جلا اوکرښه ورڅخه تاو کړئ، تش ځايونه ډک کړئ او پوښتنو ته ځواب ووايـاست.**



____ لسيز او ____ يويز ____ کيږي



____ لسيز او______ يويز ____ کيږي





____ لسيز د چرګانو او ____ نور ټول ____ چرګان کيږي.

____ لسيز د پيشوګانو او ____ نور ټول ______ پيشوګان کيږي.

کوم ګروپ زيات دی      چرګان که      پيشوګاني

څومره زيات دي؟ ________

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلورم لوست

## تر ۱۰۰ پورې د عددونو ترتیب او پرتله کول

هدف: زده کوونکی ډیر او لږ عددونه وپیژني او د هغو له مخې دې ترتیب(پرله پسي توب)وکولای شي.

شکلونو ته وګورئ د هغو د هریوه د شیانو شمېر په خپلو کتـابچو کـې ولیکئ او هر هغه عدد چې له ۱۴ شخه کوچنی دی تر شاوخوا یې یــوه مربــع رسم کړئ.



________ ________ ________ ________

شکلونوته وګورئ د هغو د هر یوه د شیانو شمېر په خپلــو کتــابچو کــې ولیکئ او هر هغه عدد چې له ۱۵ شخه زیات دی دایره ترې تاوه کړئ.



________ ________ ________

له آسونوڅخه څومره هیلۍ زیاتې دي؟ ______

له هیلیو څخه څومره وزې کمې دي؟ ______

کوم یو یې زیات دي وزې که آسونه، څومره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د زده کوونکو فعالیت:**

په خپل ګروپ کې کار وکړئ هر ګروپ یا ډلې ته دعدد یو شمېر کارتونه چې له صفر څخه تر ۲۰ پورې ور باندې لیکل شوې دې ورکول کیږي.

۱- په وار سره کار وکړئ.

۲- هر زده کوونکی دې له کڅوړې څخه یو کارت راوباسي.

۳- زده کوونکي دې عددونه له ډیرو لږو څخه د لوی عدد پورې ترتیب کړي.

۴- د هر دور عدد په جدول کې (یاد داښت) کړئ.

د عددونو کارتونه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لومړی دور | | | | | |
| دوهم دور | | | | | |
| دریيم دور | | | | | |

د جدول په برخه کې لاندې پوښتنو ته چې ستاسو په کتابچو کې یا د ټولګي په دړه باندې لیکل شوي دي ځواب ووایاست:

۱- خپل جدول ته وګورئ په هر دوره کې له ۱۳ څخه څو عددونه لوی دي؟

۲- د ټولو هغو عددونو نه چې له ۱۱ څخه کوچني دي کرښه تاوکړئ.

۳- ټول هغه عددونه چې له ۱۶ څخه لوی دي ورڅخه یوه مربع تاوه کړئ.

۴- آیا ګومان کوئ چې ټول عددونه به له ۱۶ څخه لږ وي؟

۵- له ۱۶ څخه زیات او لږ عددونه په جلاء جلاء توګه ولیکئ او بیا کوشش وکړئ او ووینئ چې ستاسو اټکل صحیح دی که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم لوست

## تر ۱۰۰ پورې د عددونو ترتیب

**هدف:** زده کوونکي عددونه دمقامي قیمت په درلودلو سره په پرله پسې توګه ترتیب کړای شي.

د فعالیت له یوه ګډون کوونکي سره دې کار وکړي او هغه عددونه چې په جدول کې لیکل شوي نه دي تر ۱۰۰ پورې بشپړ کړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۸ | | | | | | ۲ | ۱ |
| | | | | ۱۶ | | ۱۴ | | | |
| ۳۰ | | | | | | | | ۲۲ | |
| | | | ۳۷ | | | | ۳۳ | | |
| | ۴۹ | | ۴۷ | | | | | | |
| | | | | | ۵۵ | | ۵۳ | | |
| | ۶۹ | | | | | | | ۶۲ | |
| | | | | | ۷۵ | ۷۴ | | | |
| | | | | ۸۶ | | | | | ۸۱ |
| ۱۰۰ | | ۹۸ | | | | | | | |

لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست.

۱. کوم عدد له ۳۵ څخه دیوه په اندازه زیات دی؟ ______

کوم عدد له ۳۵ څخه د یوه په اندازه لږ دی؟ ______

۲. کوم عدد له ۲۷ څخه د دوو په اندازه زیات دی؟ ______

کوم عدد له ۲۷ څخه د دوو په اندازه لږ دی؟ ______

۳. کوم عدد له ۵۰ څخه د لسو واحدو په اندازه زیات دی؟ ______

کوم عدد له ۵۰ څخه د لسو واحدو په اندازه لږ دی؟ ______

۴. کوم عدد له ۷۰ څخه د شلو واحدو په اندازه زیات دی؟ ______

کوم عدد له ۷۰ څخه د شلو واحدو په اندازه لږ دی؟ ______

۵. په تشو ځایونوکې د (< یا >) مناسبه نښه ولیکئ.

۹۳ (>) ۹۷    ۴۷ ◯ ۳۵    (۲۳)    ۷۷    ۶۸ ◯ ۸۲

# شپږم لوست

## د متناوب شمېرلو مشق او تمرين

هدف: زده کوونکي په آساني سره وکولای شي د دوه، دوه، درې، درې عددونه زيات کړي او د يوه، يوه عددونو په زياتولو بسنه ونکړي.



۲۴

۲۴ له ۲۵ څخه مخ کې راځي



۲۵

۲۵ د ۲۴ او ۲٦ په منځ کې راځي



۲٦

۲٦ د ۲۵ څخه وروسته راځي

---

د خپل فعاليت د ګډون کوونکو سره يوځای کار وکړئ ښايي تاسو کوچنۍ ډبرې وکاروئ هغه عددونه چې ليکل شوي نه دي ويې ليکئ.

۱– ۳۰، ۳۱، ۳۲　　　　۶۵، ٦٦ ______　　　　______، ۱۳، ۱۴

۲– ______، ۴٦، ۴۷　　　　۷۱، ______، ۷۳　　　　۸۳، ۸۴، ______

۳– ۹٦، ۹۷، ______　　　　______، ۲۸، ۲۹　　　　۵۸، ۵۹، ______

کوچنۍ ډبرې وکاروئ د خپل فعاليت کوونکو سره ګډ کار وکړئ. متناوب شمېرل دکوچنۍ ډبرو په اېښودلو کار وکړئ. تر سلو پورې عددونه په جدول کې وليکئ. د هر عدد لپاره چې تاسو يې شمېرئ مشق او تمرين سرته ورسوئ. د مثال پــه توګــه تاسو په جګ غږ سره ووایاست (۲، ۴، ٦، ۸...) او کوچنۍ ډبرې پــه عــددونو باندې يعنې په (۲، ۴، ٦، ۸...) کېږدی د خپل فعاليت ګډون کــوونکي ارزيــابي کړئ. د۳، ۴، ۵ او نورو په زياتولو سره د متناوب شمېر عددونو فعاليت تکرار او سرته ورسوئ.

---

**کورنۍ دنده:** د لاندې لارښود په کارولو سره غوښتل شوی عدد پيداکړئ.

۱–لارښوونه: غوښتل شوی عدد د ۱۰ او ۸۰ په منځ کې دی.

۲–لارښوونه: غوښتل شوی عدد يوله لاندې عددونو څخه دی.

۱۳، ۳۰، ۲۳، ۸۰، ۸۳، ٦۷، ۵۲

۳–لارښوونه: غوښتل شوی عدد له ۵۵ څخه لږ کم دی.

۴–لارښوونه: کوم وخت چې تاسو له صفر (۰) څخه پيل کوئ د لس، لس په زيــاتولو سره د غوښتل شوي عدد نوم اخلئ. غوښتل شوي عدد له ______ څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم لوست

## مخ کې، وروسته، منځ کې، زيات، لږ

هدف: په دې لوست کې دې زده کوونکي د يوه عدد مخ کې او وروسته عددونه وپيژني.

د ۵ کتارونو کتابونو رسم چې د ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱ او ۲۲ عددونه د هغو کتارونه رابنيي.




۱۹ د ۲۰ څخه مخ کې راځي.

۱۹ د ۱۸ او ۲۰ په منځ کې دی.

۱۹ د ۱۸ څخه وروسته راځي.

۱۹ له ۱۸ څخه زيات دی.

۱۹ له ۱۸ څخه لږ دی.

جوړه جوړه کار وکړئ پوښتنوته ځواب ووایاست.

۱. هغه عدد وليکئ چې مخ کې راځي.

۳۱ ۳۲ ۳۳ ۳۴

۵۱ ۵۰ ۴۹ ____

۲. هغه عدد وليکئ چې وروسته راځي.

____ ۸۷ ۸۶ ۸۵

____ ۵۳ ۵۲ ۵۱

۳. هغه عدد وليکئ چې په منځ کې راځي.

۱۸ ۱۹ ____ ۲۱

۶۲ ____ ۶۴ ۶۵

د لاندې ترتيب شوو عددونو په اړه په پورتني چوکاټ کې دکارول شوو مثالونو نــه په ګټې اخيستو سره خبرې اترې وکړئ.

۷۲ ۷۳ ۷۴ ۷۵ ۷۶ ۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندي عددي خط په نظر کې ونيسئ او هرې پوښتنې ته ځواب ووایاست:




۱.هغه عدد چې له ۷۲ څخه مخ کې دی ترې لاندې خط وکاږئ.

۲. له هغه عدد نه دایره راتاو کړئ چې له ۷۹ څخه وروسته دی.

۳. دهغه عدد له شاوخوا نه خط تاوکړئ چې د ۷۴ او ۷۵ په منځ کې دی.

۴.په ټولو هغو عددونو باندې د (×) نښه کېږدی چې د ۷۵ او ۸۰ په منځ کې دی.

**لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:**

۱. له ۴٦ څخه مخ کې کوم یو عدد دی؟

۲. کوم یو عدد د ۳۷ او ۳۹ په منځ کې دی؟

۳. هغه عدد چې له ۵۵ څخه وروسته راځي کوم دی؟

۴.کوم عدد د یوه په اندازه له ۹۴ څخه مخ کې دی؟

**د زده‌کوونکي فعالیت:** ښوونکی باید یو عدد په دړه باندې ولیکي او د (مـــخ کې)، (وروسته)، (منځ کې)، (زیات)، او (لږ) په ډول کلمې وکاروي،ترڅو چې وکولای شي دعددونو په هکله خبرې وکړي.

**کورنۍ دنده:** لاندې معما حل کړئ.

۱. زه د ۳۸ او ۴۲ په منځ کې يم.

زه درې لسیزې لرم.

زه څوم نمره يم؟ ______




۲. له خپله ځانه یوه عددي معما جوړه کړئ چې سبا ته هغه وښیاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم لوست

## توصیفي(ترتیبي)  عددونه

هدف: زده کوونکي دې پوه شي چې لومړی دوهم، دریم... د یوه شي مقام او منزلت رابښيي.

په دې لوست کې مونږ تر ۲۰ پورې ترتیبي عددونه استعمالوو ترڅو د شـــیانو حالت او مقام څرګند کړي.



اول		دوهم		دریم		خلورم		پنځم



شپږم		اووم		اتم		نهم		لسم

که چیرې یوه بله خزنده ورسره جمع کړئ خزنده به په کوم مقام کې وي؟




۱. پنځم موټر په سره رنګ، رنګ کړئ.
۲.نهم موټر ته شین رنګ ورکړئ.
۳.شپږم موټر ته زیړ رنګ ورکړئ.
۴.دوهم موټر ته ارغواني رنګ ورکړئ.
۵.اووم موټر ته  نصواري رنګ ورکړئ.
٦.دریم موټر ته آبي رنګ ورکړئ.
۷. د شپږم موټر مخې ته څو موټرونه دي؟
۸.د خلورم موټر نه مخکې څو موټرونه دي؟
۹.د پنځم موټر څخه وروسته څو موټرونه دي؟
۱۰.د اتم موټر  شاته څو موټرونه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم فصل

## له (۱–۱۰۰) پورې د عددونو مقامي قيمت او عمليې

## نهم لوست

### د مقامي قيمت مفهوم

هدف: زده کوونکي باید په مرتبو کې درقم په ارزښت پوه شي.

له لاندې شکلونو څخه د لسيزو بنډلونه جلاء کړئ او د هغو د لسيزو ترشاوخوا خط وکاږئ بیا اړوند عددونه د جدول د یویزو او لسیزو په خانو کې ولیکئ. د مثال څخه پیروي وکړئ.



| یویز | لسیز |
|---|---|
| ۴ | ۲ |

پورته حل شوی مثال په پام کې ونیسئ د شکل له مخې لسیز او یویز جلاء کړئ او اړونده عدد په جدول کې ولیکئ.



| یویز | لسیز |
|---|---|
| | |



| يويز | لسيز |
|---|---|
| | |



| يويز | لسيز |
|---|---|
| | |



| يويز | لسيز |
|---|---|
| | |



| يويز | لسيز |
|---|---|
| | |

**کورنی دنده:** دوه رقمي عددونه درکړل شوي دي وواياست په هغــو کي څو يويز او څو لسيز دي؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٢٦ | ٣١ | ٦٢ | ٨٢ |
| ٣٨ | ۴٩ | ٧۴ | ٩٠ |
| ۵١ | ۵٧ | ٨٠ | ٩٩ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم لوست
## د عددونو جمع اوتفريق تر ۹۹ پورې

هدف: زده کوونکي دې دوه رقمي عددونه يوله بله سره جمع او هم دې له دوه رقمي عدد څخه دوه رقمي عدد تفريق کړای شي.

لاندې حل شوی مثال په نظر کې ونيسئ دوه رقمي پوښتنې يوله بله سره جمع کړئ.

۱- ۱۲ چوغکې په يوې ونې کې ناستې وې. ۲۴ چوغکې نورې له هغوې سره يوځای شوې په ونه کې ټولې څو چوغکې دي د ۲۴ زياتوالی په ۱۲ باندې داسې ليکلای شو.

۱ ۲ ........................ د جمعې لومړی جز

+ ۲ ۴ ........................ د جمعې دوهم جز

۳ ۶ ........................ د جمعې حاصل

۲-د شکل له مخې د جمعې اجزاوې او د جمعې حاصل معرفي کړئ او د هغوې عددې افاده وليکئ او همدارنګه درکړل شوې پوښتنې جمع کړئ.



| | | |
|---|---|---|
| ۴۷ + ۲۰ | ۴۰ + ۳۸ | ۳۱ + ۱۵ |
| ۸۰ + ۱۶ | ۷۴ + ۲۵ | ۶۳ + ۱۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:**

**د دې عملیو د جمعې حاصل پیداکړئ د جمعې اجزاوې او د جمعې حاصل معرفي کړئ.**

| | |
|---|---|
| **۱- ۱۴ + ۲۱ = ______** | **۲- ۱۳ + ۲۶ = ______** |
| **۳- ۱۸ + ۲۰ = ______** | **۴- ۱۷ + ۲۲ = ______** |
| **۵- ۲۱ + ۲۷ = ______** | **۶- ۲۲ + ۲۳ = ______** |

**ګرانو زده کوونکو راځئ چې د لومړۍ پوښتنې لپاره یوه کیسه جوړه کـــړو او هغه حل کړو.**

**زرمینې په خپل جیب کې ۱۴ افغانۍ درلودې او مور یې دښوونځي دبکسې لپاره ۲۱ افغانۍ نورې ورکړې اوس زرمینه څو افغانۍ لري.**

**حل:**

$$\begin{array}{r} ۲۱ \\ +\ ۱۴ \\ \hline ۳۵ \end{array}$$

**تاسو ددویمې ګڼې پوښتنې لپاره یوه عبارتي کیسه جوړه کړئ او حل یې کړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوولسم لوست

## د جمعي په عمليې کې د بدلون (تبديلي) قانون

هدف: زده کوونکي بايد پوه شي که چېرې د جمعي د اجزاؤ ځايونه بدلون ومومي د جمعي حاصل بدلون نه کوي.

که چيرې دعددونو د جمعي کولو په وخت کې د عددونو ځايونه سره بدل کړو د هغو د جمعي په حاصل کې کوم بدلون نه راځي. دځايونو دا بدلون په جمع کې د بدلون د قانون په نامه يادېږي.

تمرين يې کړئ اوپه خپله هغه ووينئ:



۵
+ ۴
---
۹

۵ + ۴ = ۹



۴
+ ۵
---
۹

۴ + ۵ = ۹

اوس وواياست چې دعددونود جمعې په حاصل کې څه بدلون راغلــی دی.

ځرنګه چې د جمعي په حاصل کې بدلون نه دی راغلی نو ويل کيږي چې د جمعي د اجزاؤ د ځايونو بدلون د جمعي په حاصل کې بدلون نه راوړي.

عددي جملې په دوه ډوله وليکئ.




____ + ____ = ____



____ + ____ = ____

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عددي جملې ولیکئ:**

۱. ۷ هلکان د پتنګ الوزونې لوبې کوي.
۵ هلکان نور له هغوی سره یوځای شول.
ټوله څو هلکان د پتنګ الوزونې لوبې کوي؟
هلکان ___ = ___ + ___

۲. ۵ هلکان د غرمې ډوډۍ خوري ۷ هلکان نور له هغوی سره یوځای شول. ټول څو هلکان دي چې د غرمې ډوډۍ خوري.
هلکان ___ = ___ + ___

۳. تش ځایونه په مناسبه عددو سره ډک کړئ د جمعې داجزاؤ د هرې جوړې د جمعې حاصل یوله بله سره پرتله کړئ او ووایاست چې څه توپیر وینئ.

۱–ګڼې بدلون:
۱۸ = ___ + ۶
۱۸ = ___ + ۱۲

۲– ګڼې بدلون:
۴۲ = ___ + ۳۲
۴۲ = ___ + ۱۰

□ + □ = □

□ + □ = □

□ + □ = □

□ + □ = □

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- ګنې بدلون:

۸۵ = ___ + ۷۲

۸۵ = ___ + ۱۳

۴- ګنې بدلون

۷۸ = ___ + ۵۴

۷۸ = ___ + ۲۴

□ + □ = □

□ + □ = □

□ + □ = □

□ + □ = □

**کورنۍ دنده:**

**لاندې هر یوه شکل ته عددي جمله ولیکئ.**

۱.



___ = ___ + ___

۲.



___ = ___ + ___

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرین:**

تاسو پوهیږئ چې ۶ له ۵ څخه زیات او داسې ۵ < ۶ لیکل کیـــږي. او هم پوهیږئ چې ۷ له ۸ څخه لږ او داسې ۸ < ۷ لیکل کیږي د جمعې په عملیه کې په دې توګه په کار وړل کیږي.

مثال –

| | | |
|---|---|---|
| ۷ + ۸ | □ | ۹ + ۸ |
| ۱۵ | > | ۱۷ |

د پورته مثال څخه په کار اخستنې سره د لاندې پوښتنو په تشو خـــایونوکې مناسب عددونه اویا د <، > نښې ولیکئ.

۲۹ + □ > ۱۲ + ۳۵ ۲۵ + ۱۴ □ ۱۲ + ۳۰

۳۸ + □ < ۲۵ + ۳۲ ۲۰ + ۳۷ □ ۴۰ + ۱۸

□ + ۳۲ > ۳۲ + □ ۴۵ + ۲۳ □ ۳۳ + ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولسم لوست

## د جمعې د دریو جزو جمع کول

تاسو کولای شئ چې دوه عددونه سره جمع کړئ اوس راځــئ چــې درې عددونه سره جمع کړو.

مونږ کولای شو دا عددونه په کوم ډول چې غواړو سره جمع کړو. د جمع کولو لپاره عددونه ګروپ کوو.

د مثال په توګه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | | ۲ | | ۲ | |
| ۴ | ۶ | ۴ | ۷ | ۴ | ۹ |
| ۵ + | ۵ + | ۵ + | ۴ + | ۵ + | ۲ + |
| ۱۱ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۱ |

لومړی کوم دوه عددونه جمع کوو؟ ولې؟

په دې تمرین کې لومړی هغه دوه عددونه وټاکئ چې یوله بله سره یې جمع کوئ د جمعې حاصل یې ولیکئ بیا وروسته د جمعې حاصل له دریم عدد سره جمع کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | ☐ | ۷ | ☐ | ۴ | ☐ |
| ۵ | ☐ + | ۱ | ☐ + | ۶ | ☐ + |
| ۳ + | | ۳ + | | ۱ + | |
| ۱۱ | | ۱۱ | | ۱۱ | |

**دزده کوونکوفعالیت:** زده کوونکي دې د۳ تنو په ګروپ جوړولو سره کار وکړي او هر زده کــوونکي ته دې دکارتونو یوه قطۍ چې په هغه باندې ۱ – ۹ نمره لرونکې وي هر زده کوونکی دې یو کــارت لــه قطۍ څخه راوباسي او نورو زده کوونکو ته دې وښیي.
زده کوونکي دې د۳ عددونو، عددي جمله ولیکي لومړی په زړه پــورې ددوو غوښــتل شــوئ عــددونو مجموعه پیداکوي وروسته دحاصل شوي عدد، عددي جمله له دریم عدد سره لیکي او د هغــوی د جمعــې حاصل پیداکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:**

**د دې لاندې عددونو د جمعې حاصل پیداکړئ او هغه عددونه چې لـــومړی یې جمع کوئ د هغوی په شاوخوا دایره وکاږئ.**

۱–

| | | |
|---|---|---|
| ۲۴ | ۱۷ | ۵۱ |
| ۳۲ | ۳۱ | ۱۶ |
| + ۱۲ | + ۵۱ | + ۲۲ |
| ۴۲ | ۰ | ۱۵ |
| ۲۲ | ۲۴ | ۳۳ |
| + ۳۲ | + ۳۵ | + ۲۱ |

**۲– ____ = ۲۳ + ۱۲+ ۲۱   ____ = ۳۱ + ۲۵+ ۱۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیارلسم لوست

## تفریق

هدف: د تفريق د عمليې د اجراء کولو تقويت (د همجنسو ګروپونو جلاء کول).

راځئ چې له شکلونو څخه کار واخلو ګروپونه جلا کړو او عددي جملې ولیکو



د مثال په توګه په يوه ونه کې ۸ چوغکې دي له هغې ونې ۲ چوغکې والوتلې اوس په ونه کې څو چوغکې پاتې شوي؟ ۶ = ۲ − ۸

اوس ليدل کيږي چې په ونه کې ۶ چوغکې پاتې دي چې دا ۶ د فرق يا د تفريق د حاصل په نامه يادېږي.

تمرين يې کړئ:

۱− له يوه ساتونکي سره ۱۵ بايسکلونه شته دي. ۹ بايسکلونه خپلــو خاوندانو يووړل څو بايسکلونه پاتې دي؟

بايسکلونه ______ = _____ − ______

۲− ۱۸ د پنسل قلمونه په ميز باندې پراته دي. ۸ پنـــسلونه يـــې زده کوونکو واخيستل څو پنسلونه پاتې کېږي؟

پنسلونه ______ = _____ − ______

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- ۲۵ هلکان دتوپ کولو لوبې مسابقه لري ۱۴ تنو یې تفریح وکړه څو تنه یې دمسابقې په حالت کې دي؟**

**هلکان ـــــ = ـــــ − ـــــــ**

**۴- د لاندې پوښتنو په تشو ځایونوکې د <، > یا = مناسبه نښه ولیکئ.**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ − ۰ | ☐ | ۳۸ − ۱۴ | ۲۸ − ۷ | ☐ | ۲۵ − ۱۱ |
| ۲۷ − ۱۶ | ☐ | ۵۱ − ۳۰ | ۵۵ − ۴۱ | ☐ | ۴۴ − ۲۳ |
| ۴۷ − ۱۵ | ☐ | ۳۲ − ۲۲ | ۷۰ − ۴۰ | ☐ | ٦۰ − ۳۰ |

**کورنۍ دنده:**

**لاندې پوښتنې تفریق کړئ.**

**۱ – ۱۶ − ۷ = ـــــ**

**۲ – ۲۳ − ۹ = ـــــ**

**۲ – ۱۳ = ـــــ − ۲۸**

**۴- ۱۳ = ۹ − ـــــ**

**۵ – د عبارتي پوښتنې یوه کیسه جوړه کړئ او د هغې عددي افاده ولیکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوارلسم لوست

## د تفریق عبارتي پوښتنې

هدف: زده کوونکي دې له کیسو او عبارت څخه مفهوم واخستلای شي او هم دریاضي افاده ولیکلای شي.

عبارتي پوښتنې ولولئ او حل يې کړئ اوپه ګډه کار وکړئ.

۱. په مېز باندې ۱۷ پنجې دي او هم په مېز باندې ۱۴ چړې دي.

څو دانې پنجې په مېز باندې زياتې دي

____ پنجې

۲. په الماری کې د۲٦ په شمېر کاچوغې شته او هم په الماری کې د

۱۵ په شمېر کاسې شته.

په الماری کې څو دانې کاچوغې زياتې شتوالی لري.

____ کاچوغې زياتې دي.

**عددي جملې يې وليکئ او حل يې کړئ.**

مثال: حميد ۳۹ کوترې ليدلې او جميلې ۲۵ کوترې ليدلې دي.

حميد څو کوترې زياتې ليدلې دي؟

کوترې ۱۴ = ۲۵ − ۳۹

۱. حميد ۳۸ دانې منې لري او زرغونه ۱۳ دانې منې لري

حميد څو دانې منې زياتې لري؟

منې ____ = ____ − ____

۲. ملالۍ ۲۰ چوغکې ليدلې او ګلالۍ ۱٦ چوغکې ليدلې دي.

ملالۍ څو چوغکې زياتې ليدلې دي؟

چوغکې ____ = ____ − ____

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل ګروپ سره کار وکړئ. له وړو تيږو يا عددي خط څخه کار واخلئ.

۱- لطيفې ۱۰ کميسونه په کوټه کې کېښودل او يوشمېر کميسونه نورهم په کوټه کې وو. چې ټول ۱۲ کميسونه کېږي ووایاست چې مخ کې په کوټې کې څو کميسونه وو؟
______ کميسونه

۲- ننګيالي د اوبو ۱۳ جکونه کورته راوړل. چې په کور کې ټول د اوبو ۱۶ جکونه شول ووایاست چې ترمخه په کورکې څو جکونه و؟
______ جکونه

۳- عليشاه ۵ دانې شيريني لري او سليمه ۳ دانې شيريني، عليشاه څو دانې شيريني ګانې سليمې ته ورکړې اوس د هغوی ددواړود شيريني ګانو شمېر مساوي دی ووایاست چې عليشاه به څو دانې شريني ګانې سليمې ته ورکړې وي.
______ دانې شريني ګانې

۴- د ځمکې په مخ ۴ سطله دي هر سطل ۱۲ دانې ډبرې لري ووایاست چې په هغه ځای کې سطلونه ډېر دي اوکه ډبرې؟

**کورنۍ دنده:**

که چېرې د نن ورځې کار مو، ترسره نه کړای شو کار په کور کې سرته ورسوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځلسم لوست

## د جمعې او تفريق تر منځ اړيکې

هدف: زده کوونکي دې پوه شي که چېرې د جمعې له حاصل څخه د جمعې يوجز تفريق کړو د جمعې بل جز حاصلیږي اوکه چېرې د تفريق حاصل له مفروق سره جمع کړو مفروق منه راکوي.

تاسو پوهيږئ چې جمع اوتفريق يوله بله سر ه اړيکې لري لاندې مثال ته پاملرنه وکړئ. مثال:

تاسو۳ کتابونه لرئ ۴ کتابونه مونږرا ونيول اوس تاسو څو کتابونه لرئ؟

حل: ۷ کتابونه= ۳ + ۴

تاسو ۴ کتابونه لرئ ۳ کتابونه مونږ را ونيول ټول څو کتابونه لرئ.

۷ کتابونه = ۴ + ۳

په همدې ډول که چېرې تاسو ۷ کتابونه ولرئ او ۳ کتابونه خپل ملګري ته ورکړئ اوس به تاسو څو کتابونه ولرئ. ۴ کتابونه= ۳ - ۷

اوس تاسو ۷ کتابونه لرئ او ۴ کتابونه موخپل ملګري ته ورکړل اوس تاسو څو کتابونه لرئ. ۳ کتابونه = ۴ - ۷

تاسو د جمعې او تفريق د دوو عمليو په سرته رسولو سره ددواړو عمليو ترمنځ اړيکې وپيژندلې څرنګه چې ۷=۴+۳ د جمعې يوه عمليه ده او ۳=۴-۷ د تفريق يوه عمليه ده. چې په حقيقت کې د جمعې له حاصل څخه د جمعې يوجز تفريق شو او د جمعې بل جز لاس ته راغلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عددي جمله وليکئ: جمع او يا تفريق يې کړئ.**

**١-   نوري ۵ منې درلودې او نوريې ۴ منې نوري ته ورکړې نوري ټولې**

**څو منې لري؟**

**منې ___ = ___ + ___**

**٢-   نوري ا و نوريه ۹ منې لري، نوريې خپلې ۴ منې واخستلې له نورې**

**سره څو منې پاتې دي.**

**منې ___ = ___ + _____**

**٣-   سارا ١٣ بکسه واخيستل او ګلالۍ ١۴ بکسه واخيستل هغوی ټول**

**څو  بکسونه اخيستي دي؟**

**بکسونه___ = ___ + ___**

**۴-   د ٢٧ په شمېر بکسونو شتوالی درلود اوشريفې ١۴  بکسونه له هغو**

**څخه واخيستل، اوس څو بکسونه پاتې دي؟**

**بکسونه___ = ___ - ___**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړلسم لوست

## د جفت او تاق عددونو پېژندنه

هدف: زده کوونکي باید جفت او تاق عددونه وپېژني.

د دې مخ ښې خواته ۴ دانې شمعې او ۴ پتنګان دي چې هر پتنګ تــه یوه شمعه رسیږي. یوه شمعه اویو پتنګ یوه جوړه جوړوي. اویوه جوړه د۲ دعدد په واسطه ښودل کیږي نو د۲ عدد یو جفت عدد دی، دمـــخ کیڼــې خواته ۳ پتنګه او۲ شمعې دي. څرنګه چې په شکلونو کې لیدل کېږي دوه پتنګه ددوو شمعو په شاوخوا څرخېږي او یو پتنګ یوازې پاته کېږي، دایـــو له بله سره مساوي نه دي (بشپړې جوړې نه جوړوي) نو د۳ عدد یو تـــاق عدد دي.



**د زده‌کوونکو فعالیت:** زده کوونکي دې جفت اوتاق عددونه د یو رقمي عددونو په واسطه لکه ۴، ۵، ٦، ۷، ۸، او ۹ د جوړو په جوړولو سره لکه: یو زده کوونکی اویو کتاب، یو ز ده کوونکی یو قلم، یـــوقلم او یـــوه کتابچه، په ټولګي کې جفت اوتاق عددونه تشخیص اوتوپیر کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې لوست څخه پوهېدلای شو چې د (۲، ۴، ٦ او۸) عددونـــه جفــت عددونه او د (۱، ۳، ۵، ۷ او۹) عددونه تاق عددونه دي.

نو ټول هغه عددونه چې ديويز رقمونه يـــې ۰، ۲، ۴، ٦ او۸ وي جفــت عددونه او ټول هغه عددونه چې ديويز رقمونه يـــې ۱، ۳، ۵، ۷ او۹ وي تاق عددونه بلل کيږي. په همدې ډول تاسو جفت اوتـــاق عددونـــه دوړو ډبرو په جوړه کولو سره په ښه توګه ليدلای شئ.




کوچنۍ ډبرې وکاروئ ا و چارت ډک کړئ.

| | يوکتار د دې کوچنيو ډبرو په اندازه سره جوړ کړئ | آيا دوه مساوي برخې جوړولای شی؟ | جفت عدد، دي اوکه تاق؟ |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۲ | هو | جفت |
| ۲ | ۱۳ | | |
| ۳ | ۱۴ | | |
| ۴ | ۱۵ | | |
| ۵ | ۱٦ | | |
| ٦ | ۱۷ | | |
| ۷ | ۱۸ | | |
| ۸ | ۱۹ | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاندې شکلونو کې کوم يوې جفت اوکوم يو يې تاق دی؟

۱.  ______

۲.  ______

۳.  ______

۴.  ______

جفت او يا تاق عددونه وليکئ.

۱. ۵۵ تاق　　۲. ۷۳ ______　　۳. ۴۲ ______

۴. ۳۴ ______　　۵. ۱۷ ______　　۶. ۲۶ ______

**کورنۍ دنده:**

لومړی درې جفت عددونه وليکئ بيا وروسته درې تاق عددونه وليکئ

جفت عددونه: ______ ______ ______

تاق عددونه: ______ ______ ______

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرین:**

**۱- له ۷۰، ۵۴،۴۶، ۳۳، ۲۳، ۱۶، ۱۵ عددونو څخه جفت عددونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.**

**۲- له ۷۵، ۶۰، ۴۲، ۳۸، ۲۵، ۲۲، ۱۸ عــددونو څخه تاق عددونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.**

**۳- ټول جفت عددونــه چــې د۳ او ۱۵ تــرمنځ دي ویېلیکئ؟**

**۴- ټول تاق عددونه چــې د۶ او۲۲ تــرمنځ شــته دي ویې لیکئ؟**

**۵- لاندې جدول په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.**

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۲ | ۳۴ | | | | | | | | ۵۰ |

**۶- لاندې جدول په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.**

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۳ | ۵ | | | | | ۱۵ | | ۱۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل

## د دوه رقمي عددونو جمع

### اوولسم لوست

### د دوه رقمي عددونو جمع کول له یوه رقمي عددونو سره (چې حاصل ولري)

هدف: زده کوونکي باید دوه رقمي عددونه له یوه رقمي عددونو سره چې حاصل ولري جمع کړای شي.

مثال: غواړو چې د١٦ عدد د٧ له عدد سره چې حاصل لرونکي دي جمع کړو.



١٦ + ٧ = ٢٣

پوهېږو چې د١٦ عدد له ٦ یودانه یي او د لسو یوه بنډل څخه جوړ شوی دی کله چې ٧ یودانه یي له هغه سره جمع شي د یو دانه یي شمېر ١٣ کېږي چې د هغو یودانه یي څخه یو د لسي بنډل لاس ته راځي او ٣ یودانه یي پاتي کېږي په دې ډول د تولو لرګیو شمېر دوه بنډله د لسیو او دري یودانه یي ته رسېږي. چې د ٢٣ عدد حاصلیږي. څرنګه چې ٣ یو دانه یي د یویزو په مرتبه کې او ٢ لسي د لسیزو په مرتبه کې لیکل کېږي نو له همدې امله ویل کېږي چې د جمعي عملیه حاصل لرونکي ده.




د پورتني مثال له حل کولو څخه په استفادې سره لاندې پوښتنې جمع کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ١٧ | ٢٥ | ٣٩ | ٤٥ | ٥۴ |
| + ٩ | + ٨ | + ٦ | + ٨ | + ٧ |
| | | ٣٥ | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په ټولګي کې د زده‌کوونکو فعالیت:**

شکلونوته وګورئ او عددي افاده يې وليکئ.



_______ + _______ = _______



_______ + _______ = _______

**کورنی دنده:** لاندې پوښتنې جمع کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۵۷ | ۴۵ | ۳۶ |
| + ۳ | + ۹ | + ۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتلسم لوست

## د دوه رقمي عددونو جمع کول له دوه رقمي عددونو سره چې حاصل ولري

هدف: زده کوونکي دې دوه رقمي عددونه له دوه رقمي عددونو سره چې حاصل ولري جمع کړای شي؟

لومړی مثال: غواړو چې د ۱۵ دوه رقمي عدد له ۱٦ دوه رقمي عدد سره جمع کړو دتیر شوي لوست څخه پوهیږو چې د۱۵ عدد له ۵ یودانه یي او یوه لسي بنډل څخه جوړ شوی دی. په همدې ډول د۱٦ عدد له ٦ یوه دانه یي او یوه لسي څخه منځ ته راغلی دی.




دوهم مثال:



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د هغه دوه رقمي عددونو مشق او تمرين چې حاصل ولري.**

لومړی يويز سره جمع کړئ. دوهم بيا ګروپ (حاصل ونيسي) جوړ کړئ.

دريم لسيز جمع کړئ.

$$\begin{array}{r} ۴۶ \\ +\ ۳۵ \\ \hline \end{array} \qquad \begin{array}{r} ① \\ ۴۶ \\ +\ ۳۵ \\ \hline ۱ \end{array} \ (۱۱) \qquad \begin{array}{r} ① \\ ۴۶ \\ +\ ۳۵ \\ \hline ۸۱ \end{array}$$

تاسو ولې لومړی يويز سره جمع کوئ؟

د پورته مثال څخه په کار اخستنې سره لاندې پوښتنې حل کړئ.

۱.

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۶ | ۳ |
| + ۱ | ۷ |
| | |

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۲ | ۷ |
| + ۳ | ۱ |
| | |

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۳ | ۹ |
| + ۱ | ۵ |
| | |

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۳ | ۷ |
| + ۲ | ۹ |
| | |

۲.

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۲ | ۹ |
| + ۶ | ۶ |
| | |

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۴ | ۷ |
| + ۱ | ۸ |
| | |

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۶ | ۵ |
| + ۲ | ۷ |
| | |

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۳ | ۱ |
| + ۲ | ۲ |
| | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خپل يوه ملگري سره کار وکړئ:**

۳- په الماری کې ۱۴ صندوقه شربت دي. يوه سړي ۳۸ صندوقه نور په هم هغه الماری کې کېښودل. اوس په الماری کې د شربت څو صندوقه دي؟__

۴- ګلالۍ دوه سفري بکسونه لري چې دروندوالی يې ۳۴ کيلوګرامه دی، په لاندې بکسونو کې د ګلالۍ سفري بکسونه کوم دي او هر يو يې څو کيلوګرامه دی __________؟










۵- په هر کارتن کې د شربت ۳٦ بوتله دي، آيا دوه کارتنه شربتونه د ۷۰ هلکانو لپاره بس کوي؟ ______

**کورنۍ دنده:**

د نن ورځې تمرينونه د لاندې کارونو سره، سرته ورسوئ.

تاسو په خپله يوه عبارتي پوښتنه وليکئ او په هغه کې دوه رقمي عددونه وکاروئ اوسبا هغه ټولګيوالو ته وښياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نولسم لوست

## د جمعې د دريو جزو جمع کول چې حاصل ولري

هدف: زده کوونکي د دريو عددونو د جمعې حاصل چې حاصل لرونکي دي پيداکړائ شي.

**۲۷ هلکان مطالعه کوي، ۳۴ هلکان درياضي کورنۍ کار سرته رسوي او ۱۸ هلکان رسامي کوي ټول څو هلکان دښوونځي کار اجراء کوي؟**

**اجازه راکړئ چې د جمعې درې جزه يوله بله سره جمع کړو. د دې منظور لپاره لاندې حل په پام کې نيسو.**

| په لومړي ګام کې يويز جمع کړئ | په دوهم ګام کې حاصل ونيسئ | په دريم ګام کې لسيز جمع کړئ |
|---|---|---|
| | ١ | ١ |
| ٢٧ | ٢٧ | ٢٧ |
| ٣۴ | ٣۴ | ٣۴ |
| + ١٨ | + ١٨ | + ١٨ |
| | ٩ (١٩) | ٧٩ |

**۷۹ هلکان دښوونځي کار کوي.**

١- د خپل ملګري سره يوځای کار وکړئ جمع يې کړئ که چېرې اړتياوې حاصل ونيسئ د جمعې حاصل پيداکړئ.

| لسيز | يويز |
|---|---|
| ١ | |
| ٣ | ٢ |
| ١ | ٨ |
| + ۴ | ٢ |
| ٩ | ٢ |

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ١ | ٨ |
| ٢ | ١ |
| + ١ | ٧ |
| | |

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۶ | ٢ |
| ١ | ۴ |
| + ٢ | ٣ |
| | |

| لسيز | يويز |
|---|---|
| □ | |
| ۴ | ٧ |
| ١ | ٠ |
| + ٢ | ۶ |
| | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپل یوه ملګري سره کار او جمع یې کړئ.

۲.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵۱ | ۱۶ | ۴۸ | ۵۶ | ۱۲ | ۳۰ |
| ۲۳ | ۲۰ | ۲۱ | ۲۷ | ۲۵ | ۲۴ |
| ۱۳ + | ۶ + | ۲ + | ۴ + | ۵۱ + | ۲۰ + |
| ۸۷ | | | | | |

۳.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۳۵ | ۴۷ | ۲۳ | ۱۵ | ۲۲ |
| ۴۳ | ۲۱ | ۱۲ | ۲۳ | ۴۷ | ۱۳ |
| ۱۴ + | ۲۵ + | ۷ + | ۲۳ + | ۳۵ + | ۴۲ + |

۴. ______ = ۲۵ + ۳۷ + ۲۵      ۵. ______ = ۳۶ + ۱۸ + ۱۲

کوچنیان مرۍ په تار کې اچوي چې په مارکیټ کې یې وپلوري هر تار څو قیمت لري؟


۱۷ افغانۍ


۳۶ افغانۍ


۲۵ افغانۍ

۱. 

______ افغانۍ

۲. 

______ افغانۍ

۳. 

______ افغانۍ

۴. 

______ افغانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دوو رقمي عددونو د جمعې مشق او تمرین

**حبیب ۹۳ افغانۍ لري هغه په دې افغانیو له لاندې شیانو څخه کوم دوه شیان رانیولای شي.**



کرتۍ



بوټ



پتلون



جاکټ

**۴۹ افغانۍ　　۴۸ افغانۍ　　۴۵ افغانۍ　　۴۰ افغانۍ**

**حدس ووهئ ترڅو درته معلوم شي چې ستاسو حدس صحیح دی اوکه نه؟**

| | | |
|---|---|---|
| دا ډیر زیات قیمت لري کوشش وکړئ داسي شی واخستلای شئ چي قیمت یي لږ وي.<br>۴۹ افغانۍ<br>۴۸ افغانۍ<br>۹۷ افغانۍ | زه نږدې یم خو قیمت یې اوس هم زیات دی کوشش وکړئ داسې شی واخلئ چې بیاهم لږ قیمت ولري.<br>۴۹ افغانۍ<br>۴۵ افغانۍ<br>۹۴ افغانۍ | تاسو پوره پیسې لرئ چې دا دوه شیان واخلئ.<br>۴۹ افغانۍ<br>+ ۴۰ افغانۍ<br>۸۹ افغانۍ |

**حبیب جاکټ اوکرتۍ را نیولای شي.**

**له خپل ګروپ سره خبرې وکړئ.**

**۱- حبیب په ۹۳ افغانیو نور کوم دوه شیان را نیولای شي؟**

**مرسته: هلته درې نور امکانات شته.**

______　______　______

**حل یې کړئ او فکر وکړئ**

**۲- جمیله ۸۶ افغانۍ لري هغه غواړي چې له پورته شیانو څخه دوه شیان را ونیسي هغه کوم دوه شیان را نیولای شي؟**

**جمیله ______ او ______ را نیولای شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- حل يې کړئ وښاياست جميله او جمشيد کومې پيسې چې له ځان سره لري له لاندې شيانو څخه کوم يو شی رانيولای شي.



ناوه کی

۲۹ افغانۍ



جورابې

۴۹ افغانۍ



قلم

۴۲ افغانۍ



کتاب

۳۵ افغانۍ



عينکی

۳۰ افغانۍ



موټرکی

۲۵ افغانۍ

۴- جميله ٦۹ افغانۍ لري هغه غواړي چې دوه شيان واخلي هغه کـوم شـيان اخـستلای شي.

جميله ________ او______ اخيستلای شي.

۵- جميله په ٦۹ افغانيو نور کوم دوه شيان اخيستلای شي.

جميله ________ او______ اخيستلای شي.

٦- جمشيد ٦۰ افغانۍ لري هغه غواړي له پورته شيانو څخه دوه شيان واخلی هغه کوم شيان اخيستلای شي.

جمشيد ________ او______ اخيستلای شي.

۷- جمشيد په ٦۰ افغانيو نور کوم دوه شيان اخيستلای شي؟

جمشيد ________ او______ اخيستلای شي.

**کورنۍ دنده:** جميله غواړي چې درې شيان واخلي. آيا پوره پيسې ورته لري؟ تاسو څرنګه پوهيږئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم فصل

# د دوه رقمي عددونو تفريق

## شلم لوست

**له دوه رقمي عدد څخه ديوه رقمي عدد تفريق کول، چې په هغه کې پور(قرض) اخيستل وي**

هدف: زده کوونکي له دوه رقمي عدد څخه ديوه رقمي عدد چې په هغه کې پور اخيستل وي تفريق کړاي شي.

مثال: تاسو ۲۱ قلمونه لرئ، غواړي چې د هغو څخه ۸ قلمونه خپل ورورته ورکړئ آيا په آسانه سره دا کار کولای شئ څرنګه؟



په شکل کې ليدل کيږي چې يوه دانه او دوه بنډلونه د لس کونوشته دي تر هغه وخت پورې له هغو څخه ۸ خپل ورورته ورکولای نشئ. په دې صورت کې بايد دلسي يوبنډل خلاص کړي دمثال په توګه:



اوس چې ټوله يوولس يودانه يې قلمونه او يو بنډل د لسي دی له هغو څخه ۸ داني قلمونه خپل ورور ته ورکړئ چې په پای کې ۳ دانې يودانه يې او يو بنډل د لسي پاته کيږي چې ۱۳ قلمونه کيږي په رياضي کې د تفريق دا عمليه داسي ښودل کيږي.

| | |
|---|---|
| ⑪① | |
| ۲۱ | ← مفروق منه |
| ۸ − | ← مفروق |
| ۱۳ | ← دتفريق حاصل |

چې لوی عدد ته مفروق منه، کوچنی عدد ته مفروق او پاتې شوي عدد ته د تفريق حاصل وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرین: له دوه رقمي عدد څخه دیوه رقمي عدد تفریق کول دپــور (قرض) اخیستلو په صورت کې.**

**لاندې پوښتنې تفریق کړئ.**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۲۷ | ۲۶ | ۲۴ |
| − ۵ | − ۹ | − ۸ | − ۷ |
| ۵۷ | ۵۱ | ۴۵ | ۳۸ |
| − ۸ | − ۶ | − ۸ | − ۹ |
| ۹۵ | ۸۲ | ۷۰ | ۶۳ |
| − ۷ | − ۶ | − ۱ | − ۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو ويشتم لوست

## له دوه رقمي عددونو څخه د دوه رقمي عدد تفريق (د پور اخستلوپه صورت کې)

هدف: زده کوونکي له دوه رقمي عدد څخه ددوه رقمي عدد چې په هغه کې پور اخيستل وي تفريق کړای شي.

لومړی مثال: د تاسو اورلګيت ۴۵ لرګوټي لري او غواړئ چې داورلګيت ۱۸ داني خپل ورور ته ورکړي داکار څرنګه سرته رسوئ.

| يويز | لسيز |
|---|---|
| ۵ | ۴ |
| ۸ | ۱− |

پوهيږو چې ۴۵ له څلور بنډلو لسيو او ۵ يودانه يي څخه جوړ شوی دی او د ۱۸ عدد له يوه بنډل لسي او ۸ يوه دانه يي څخه حاصل شوی دی.

اوپه دي هم پوهيږو چې د تفريق په عمليه کې يويز له يويز او لسيز لــه لــسيز څخه منفي کوو. څرنګه چې د لوی عدد (مفروق منه) د يويزو رقم ۵ يودانه يي دی او له هغه څخه د ۸ يو دانه يي عدد منفي کيدای نشي نو د لسي يوبنــډل خلاصوو او په لسو يودانه يي بدلوو.



۴۵ – ۱۸ ۴۵ – ۱۸

لس يودانه يي چې له ۵ يو دانه يي سره يوځای شي ۱۵ يودانه يي حاصليږي او د لسو له بنډلو څخه دلسو دري بنډله پاتي کيږي. د۱۵ يودانه يي څخه چې ۸ يودانه يي منفي کړو ۷ يو دانه يي پاتي کيږي اوله دريو لسيو څخه چې يو بنډل د لسي منفي شي ۲ بنډله پاتي کيږي چې د تفريق د دې عمليې په نتيجه کې ۲۷ لرګوټي پاتې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا عمليه په رياضي کې داسې اجراء کوو.

| | يويز | لسيز |
|---|---|---|
| | (١۵) | (٣) |
| مفروق منه | ۵ | ۴ |
| مفروق | ٨ | −١ |
| د تفريق حاصل | ٧ | ٢ |

**دوهم مثال:**

| | |
|---|---|
| ٣۴ | مفروق منه |
| − ١۶ | مفروق |
| | دتفريق حاصل |



**په پورتني شکل کې نشو کولای سمدلاسه د ٣۴ له عدد څخه د ١٦ عدد تفريق کړو. ترڅو چې يو بنډل د لسي په يوه دانه يې بدل نکړو نولــه دې امله يو لسی په يوه دانه يې باندې بدلوو او وروسته عمليه سرته رسوو.**



**په دې شکل کې ليدل کيږي چې ١۴ يو دانه يې او ٢ لسي حاصل شــوي دي که چېرې له ١۴ يودانه يې څخه ٦ يودانه يې منفي شي ٨ يودانه يې پاتې کيږي اوله ٢ لسيو څخه چې يو لسي منفي شي ١ لسی پاتې کيږي د مثال په توګه:**

| | يويز | لسيز |
|---|---|---|
| | (١۴) | (٢) |
| مفروق منه | ۴ | ٣ |
| مفروق | ۶ | −١ |
| د تفريق حاصل | ٨ | ١ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشق او تمرین: ددوو رقمي عددونوتفریق.**

**عددونه تفریق کړئ او په هغوی کې مفروق منه، مفروق او د تفریق حاصل وښایاست.**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱. | ۴۹ − ۳۱ = | ۶۴ − ۲۵ = | ۸۱ − ۱۴ = |
| ۲. | ۶۲ − ۱۲ = | ۲۲ − ۱۵ = | ۷۳ − ۳۶ = |
| ۳. | ۵۶ − ۱۹ = | ۳۸ − ۹ = | ۹۴ − ۷ = |

**کورنۍ دنده:**

په لاندې چوکاټونو کې غلط ځوابونه پیدا کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱. | ۵۴ | ۴ لسیز ۱۴ یویز | ۵ لسیز ۴ یویز | ۴ لسیز ۱۵ یویز |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲. | ۷لسیز ۱۸یویز | اته اویا | ۷لسیز ۸یویز | ۷۸ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳. | نه څلویښت | ۴لسیز۱۹یویز | ۴۹ | ۴لسیز۹یویز |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مشق او تمرین: ددوو رقمي عددونو تفریق.

تاسو دوه رقمي عددونه تفریق کولای شئ.

| دریم | دوهم | لومړی |
| --- | --- | --- |
| ۴ − ۲ = ۲ | ۱۱ − ۹ = ۲ | (۴)(۱۱) |
| (۴)(۱۱) | (۴)(۱۱) | ~~۵~~ ~~۱~~ |
| ~~۵~~ ~~۱~~ | ~~۵~~ ~~۱~~ | − ۲۹ |
| − ۲۹ | − ۲۹ | |
| ۲۲ | ۲ | |

معنا يې دا ده چې ۲۲ = ۲۹ − ۵۱

د خپل ملګري سره په ګډه کار وکړئ،تفریق يې کړئ که چېرې اړتیاوې پور واخلئ.

۱. 

| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ۵ | ۱۸ |
| ۶ | ۸ |
| − ۴ | ۹ |
| ۱ | ۹ |

| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ☐ | ☐ |
| ۴ | ۵ |
| − ۳ | ۸ |

| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ☐ | ☐ |
| ۸ | ۷ |
| − ۵ | ۷ |

| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ☐ | ☐ |
| ۷ | ۳ |
| − ۲ | ۱ |

۲. 

| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ☐ | ☐ |
| ۴ | ۵ |
| − ۱ | ۸ |

| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ☐ | ☐ |
| ۶ | ۳ |
| − ۲ | ۷ |

| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ☐ | ☐ |
| ۷ | ۸ |
| − ۴ | ۹ |

| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ☐ | ☐ |
| ۹ | ۵ |
| − ۲ | ۶ |

په چوکاټ کې دکارشوي مثال نه په کار اخیستو سره لاندې پوښتنې حل کړئ.

۳. 

| | | | | |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| ۹۰ | ۳۶ | ۴۳ | ۶۷ | ۹۷ |
| − ۷۱ | − ۱۷ | − ۵ | − ۳۸ | − ۷۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

حل يې کړې:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| .۴ | ۸۳<br>– ۲۴ | ۳۹<br>– ۱۲ | ۴۶<br>– ۲۵ | ۲۰<br>– ۱۳ | ۸۵<br>– ۲۰ | ۴۲<br>– ۱۹ |
| .۵ | ۵۲<br>– ۳۷ | ۹۳<br>– ۶۱ | ۷۸<br>– ۱۹ | ۵۶<br>– ۴۷ | ۴۰<br>– ۲۵ | ۸۳<br>– ۲۴ |

قوانين تعقيب او تفريق يې کړئ قانون او قاعده پيداکړئ او ورک شوي عددونه وليکئ.

.٦ ۱۷د عددله لاندې عددونو څخه تفريق کړئ

| | |
|---|---|
| ۶۸ | ۵۱ |
| ۴۹ | |
| ۷۳ | |
| ۳۱ | |
| ۵۵ | |

.۷ تفريق يې کړئ

| مفروق منه | مفروق | دتفريق حاصل |
|---|---|---|
| ۳۷ | ۱۹ | |
| ۹۳ | ۷۷ | |
| ۶۳ | ۴۳ | |
| ۷۰ | ۵۲ | |
| ۵۸ | ۴۰ | |

**کورنی دنده:** حل يې کړئ.

صادق د رياضي د پوښتنو د حل لپاره د کاغذ ۳۷ پاڼې درلودې چې يوڅه شـــمېر د دې پاڼو څخه يوه کوچني مورک وخوړلې، د صادق د پاتې پاڼو شمېر د افــادې لــه مخــې پــيداکړئ چې څو پاڼې خوړل شوي دي. او څو پاڼې پاتې دي.

**مرسته:** هره پوښتنه به دوه ځوابونه ولري.

(۲)(۱۷)
~~۳~~ ~~۷~~
– ۱
―――
۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه ويشتم لوست
## د جمعې او تفریق د عملیو آزمول د یو بل په واسطه

هدف: زده کوونکي د جمعې عملیه د تفریق په واسطه او د تفریق عملیه د جمعې په واسطه امتحان کړای شي او برسیره پر هغه د مفروق منه، مفروق او د تفریق حاصل کلمې هم هدف ده،

د دې دپاره چې پوه شو د جمعې عملیه صحیح سرته رسیدلې اوکه غلطه د جمعې پوښتنه حل او د لاندې عملیې په واسطه یې آزمویو.

**مثال:**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| (۱) ۷۵ | دجمعې لومړی جز | | مفروق منه | (۱۳)(۸) ۹۳ |
| + ۱۸ | دجمعې دویم جز | | مفروق | − ۱۸ |
| ۹۳ | دجمعې حاصل | | دتفریق حاصل | ۷۵ |

**امتحانول:**

| | |
|---|---|
| (۱۳)(۸) ۹۳ | مفروق منه |
| − ۷۵ | مفروق |
| ۱۸ | دتفریق حاصل |

یعنې د جمعې د پوښتنې د صحیح والي لپاره د جمعې له حاصل څخه د جمعې یو جز تفریق کوو که چېرې د جمعې بل جزء لاس ته راشي د جمعې پوښتنه صحیح ده. که چېرې د جمعې بل جزء لاس ته رانشي نو پوښتنه غلطه جمع شوې ده. لاندې پوښتنې حل او امتحان کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶۳ + ۲۹ = ☐ ; ☐ − ☐ = ☐ | ۵۹ + ۱۴ = ☐ ; ☐ − ☐ = ☐ | ۴۵ + ۲۸ = ☐ ; ☐ − ☐ = ☐ | ۴۸ + ۲۴ = ☐ ; ☐ − ☐ = ☐ |
| ۳۹ + ۳۶ = ☐ ; ☐ − ☐ = ☐ | ۴۸ + ۳۷ = ☐ ; ☐ − ☐ = ☐ | ۶۷ + ۲۷ = ☐ ; ☐ − ☐ = ☐ | ۷۵ + ۱۶ = ☐ ; ☐ − ☐ = ☐ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درویشتم لوست

## د تفریق د عملیې آزمونه

هدف: زده کوونکي د جمعې دعملیې په سرته رسولو سره د تفریق د عملیې په صحیح والی باندې ډاډه اوسي.

مثال: د تفریق لاندې پوښتنه په نظر کې ونیسئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۸ | مفروق منه | | |
| − ۳۲ | مفروق | | |
| ۱۶ | دتفریق حاصل | | |

آزموینه:

۳۲
\+ ۱۶
۴۸

د دې لپاره چې پوه شو د تفریق عملیه مو صحیح سرته رسولې ده اوکه نه په دې صورت کې د تفریق حاصل دمفروق سره جمع کوو که چېرې مفروق منه لاس ته راشي د تفریق پوښتنه صحیح حل شوې ده او که چېرې مفروق منه لاس ته رانشي نو پوښتنه غلطه حل شوې ده.

**تمرین:**

۴۹ − ۱۷ = ؛ □ + □ = □

۳۸ − ۲۸ = ؛ □ + □ = □

۶۷ − ۵۰ = ؛ □ + □ = □

۸۷ − ۴۸ = ؛ □ + □ = □

۷۰ − ۲۰ = ؛ □ + □ = □

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلور ویشتم لوست

## د عددونو جمع کول د چوت په واسطه

**هدف**: زده کوونکي عددونه د چوت په واسطه جمع کړای شي چې د ذهن د انکشاف لپاره ښه وسیله ده.




دا د چوت یو کوچنی نمونه ده په داسې حال کې د ښي خوا سیخ یا میله د یویزو مرتبه او دکیڼې خوا سیخ یا میله د لسیزو مرتبه ښیي داچوت د یویزو په مرتبه کې ۸ داني مرۍ لري او د لسیزو پـــه مرتبه کې یې مرۍ نشته اوشي نه لري. دا چوت چې تاسو وینئ ۸ عدد ښیي.

تاسو لاندې هر یوشکل خپلو کتابچوته نقل کړئ او د هغـــه اړونــد عــدد ولیکئ.















(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس غواړو د چوت په واسطه د دوو عددونو د جمع کولو په طریقه باندې پوه شو، د دې مطلب لپاره د ۱۳ عدد د۱۱ له عدد سره جمع کوو.




۱۱ + ۱۳ ⟶ ۱۰ + ۱۴ ⟶ ۲۰ + ۴ = ۲۴

له کینې خوا څخه په لومړي چوت کې د یویزو په ځای کې یوه مــرۍ او د لسیزو په ځای کې هم یوه مرۍ شته ده چې د۱۱ عدد راښیي. او ۱۳ مرۍ په هغو باندې دزیاتوالي په حالت کې دي. کله چې ۱۳ مرۍ ګاني په هغــو باندې ورزیات شي نوپه دوهم شکل کې د یویزو په ځای کي ۱۴ مرۍ او د لسیزو په ځای کې بیاهم هغه یوه مرۍ ده. څرنګه چې پوهیږو چې لس یــو دانه یې دیوه لسي سره مساوي کیږي نو دلسو یوه دانه یې مریو په ځای د لسیزو په ځای کي یوه مرۍ ایږدو چې د یویزو په ځای کې ۴ مرۍ پــاتې کیږي او د لسیزو په ځای کي ۲ مرۍ کیږي چې دوه لسه یعنې ۲۰ راښیي په دې صورت کې وروستۍ چوت د۲۴ عدد راښیي.

۱– د چوت څخه کار واخلئ او لاندې پوښتنې په زده کوونکو باندې حل کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۲ | ۲۸ | ۲۴ | ۱۵ |
| + ۷ | + ۱۳ | + ۱۰ | + ۸ |

۲–د ۸، ۱۳، ۳۲، ۴۰، ۵۷ او۸۳ عددونه په چوت کې وښایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه ویشتم لوست

## د عددونو تفریق د چوت په واسطه

هدف:زده کوونکي د تفریق عملیه دچوت په واسطه سرته ورسولای شي ترڅودعملیې سرته رسول د هغو ذهني پراختیا سبب شي.

غواړو دچوت په واسطه د۲۵ له عدد څخه د۱۲ عدد تفریق کړو.

□ = ۱۲ – ۲۵




۲۵ – ۱۲ = ۱ ۳

د شکل له مخې لیدل کیږي چې د یویزو له سیخ څخه دوه مـــرۍ او د لسیزو څخه یوه مرۍ ایستل کیږي یعنې کمیږي په نتیجه کې د بنې خوا په چوت کې د یویزو په سیخ کې ۳ مرۍ او د لسیزو په سیخ کې یــوه مرۍ پاتې کیږي. او د تفریق حاصل د۱۳ عدد کیږي.

**مشق او تمرین: د تفریق دعملیې سرته رسول په چوت کې.**

۱– د تفریق لاندې پوښتنې په چوت کې سرته ورسوئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۲ | ۱۵ | ۲۴ | ۲۳ |
| – ۷ | – ۸ | – ۱۰ | – ۱۳ |

۲–د ۶،۱۴،۱۶، ۲۵، ۶۳ او ۷۹ عددونه په چوت کې وښایاست.

۳– په لاندې شکلونو کې د هرچوت اړوند عدد د هغو تر لاندې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم فصل

## له (۱۰۰– ۱۰۰۰) پورې د عددونو لوستل او ليكل

## شپږم ويشتم لوست

## له (۱۰۰ – ۱۰۰۰) پورې د عددونو لوستل او ليكل

هدف: زده کوونکي بايد تر ۱۰۰۰ پورې دعددونو لوستل اوليکل زده کړي.

مونږ پوهيږو چې ټول عددونه له لاندې لس شکلونو څخه جوړ شوي دي.

۰ ، ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ٦، ۷، ۸ او ۹

چې پورته هر يوه شكل ته رقم وايي كه چېرې د ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ٦، ۷، ۸ او ۹ عددونو ښي خواته يو صفر كيږدو نو لاندې عددونه لاس ته راځي.

۱۰، ۲۰، ۳۰، ۴۰، ۵۰، ٦۰، ۷۰، ۸۰، ۹۰ چې دا عددونه يو لسى ياخو لسيه راښيي او دا له ۱۰ څخه تر۹۹ پورې عددونه دوه رقمي عددونه دي چې له ښي خوا څخه د كيڼې خواته په ترتيب سره لومړي رقم ته د يويزو ځاى او د هغو دوهم رقم ته د لسيزو ځاى وايي.

اوس كه چېرې د يو رقمي عددونو ښي خواته دوه صفرونه كيښودل شي نو د ۱۰۰، ۲۰۰، ۳۰۰، ۴۰۰، ۵۰۰، ٦۰۰، ۷۰۰، ۸۰۰ او ۹۰۰ عددونه حاصليږي چې دا عددونه يو سلي يا څو سلونه راښيي او درې رقمي عددونه بلل كيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووه ويشتم لوست
# لس ګوني (لسيز) او سل ګوني

هدف: زده کوونکي په دې پوه شي چې لس يويز مساوي له يوه لسي، اولس (سليز) لسي مساوي له يوه سلي سره کيږي.




۱۰ لسيز ۱۰۰ ۱-سلی ۱۰۰ دريم شکل دويم شکل لومړي شکل

که چېرې پورتني شکلونه وليدل شي په آسانۍ سره پوهيدلای شو چې دوهم شکل د لومړي شکل لس برابره دی چې ۱۰ ددوه رقمو کوچنی عدد دی او د هغو دريم شکل ۱۰۰ معرفي کوي چې د دوهم شکل لس برابره او سل برابره د لومړي شکل دی چې د درې رقميو کوچنی عدد دی.

| | | |
|---|---|---|
| ۱.  | ۲ سلګوني | ۲۰۰ |
| ۲.  | ____ سلګوني | |
| ۳.  | ____ سلګوني | |
| ۴.  | ____ سلګوني | |
| ۵.  | ____ سلګوني | |
| ۶.  | ____ سلګوني | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مونږ سلونه د لسونو په توګه ليکلای شو څرنګه...**




**د پورته مثال څخه په کار اخيستو سره د شکلونو له مخې تـــش ځايونـــه ډک کړئ.**

۱. 

۱۰۰ = ۱۰ لسه

۲. 

____ = ____ لسه

۳. 

____ = ____ لسه

۴. 

____ = ____ لسه

۵. 

____ = ____ لسه

۶. 

____ = ____ لسه

**کورنۍ دنده:** حل يې کړئ.

۱. ۲۷ + ۳۵

۲. ۸۶ − ۱۳

۳. ۷۲ − ۲۷

**۴. د شکل له مخې ووایاست چې يوسلی له څو لسيزو او څو يويزو څخه جوړ شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اته ویشتم لوست
# سلیز، لسیز او یویز

**هدف:** زده کوونکي درې رقمي عددونه په اړوند مرتبو کې ځای په ځای کړای شي.

ګرانو زده کوونکو! تاسو په تیر لوست کې له ۱۰۰ څخه تر ۹۰۰ پورې عددونه پیژندلي دي. اوس که چېرې د۱۰۰، ۲۰۰، ۳۰۰، ۹۰۰ عددونو د لومړي رقم په ځای د۱، ۲، ۳۰۰، ۹ یو رقمي عدد ولیکو د۱۰۱، ۱۰۲، ۱۰۳، ۱۰۴، ۱۰۵، ۱۰۶، ۱۰۷، ۱۰۸ او۱۰۹ عددونه حاصلیږي او همدارنګه که چېرې ددواړو صفرونو په ځای نور رقمونه ولیکل شي له ۱۱۱ څخه تر ۹۹۹ پورې عددونه لاس ته راځي چې له ۱۰۰ څخه تر ۹۹۹ پورې درې رقمي عددونه دي. تر ټولو کوچنی درې رقمي عدد ۱۰۰ دی او تر ټولو لوی درې رقمي عدد ۹۹۹ دی او د هغو اړوند رقم د یویزو، لسیزو او سلیزو په ځایونوکې په لاندې توګه لیکل کیږي.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۱ | ۰ | ۰ |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۱ | ۰ | ۱ |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۱ | ۱ | ۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| يويز | لسيز | سليز |
|---|---|---|
| ٨ | ٣ | ٢ |

دوه سوه اته ديرش




که چېرې د لسيزو عدد، ونه لري تاسو څه شی بايد وليکئ؟

د خپل کار په کتابچو کې وليکئ څو سليز، لسيز او يويز دکارشـــوي مثال څخـــه کار واخلئ او وروسته د شکل له مخې عدد وليکئ.



| يويز | لسيز | سليز |
|---|---|---|
| ۴ | ۶ | ۴ |

۴۶۴

۱. 

| يويز | لسيز | سليز |
|---|---|---|
| | | |

۲. 

| يويز | لسيز | سليز |
|---|---|---|
| | | |

۳. 

| يويز | لسيز | سليز |
|---|---|---|
| | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. 

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

______________

۵. 

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

______________

٦. 

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

______________

۷. 

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

______________

۸. تاسو یو **عدد** وټاکئ او د ،  شکلونو په واسطه هغه **عدد** وښایاست.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

______________

**کورنۍ دنده:** نمونې ته وګورئ او ځوابونه پیدا کړئ.

۱. په ۴۰۰ کي خومره  ؟

په ۴۰۰ کي خومره  ؟

په ۴۰۰ کي خومره  ؟

۲- په ۹۰۰ کي خومره  ؟

په ۹۰۰ کي خومره  ؟

په ۹۰۰ کي خومره  ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه ویشتم لوست

## تر ۱۰۰۰ پورې د عددونو مقامي ارزښت

**هدف**: زده کوونکي برسیره پردې چې تر زرو پورې دعددونو مقامي قیمت وپیژني او وبې لیکي د شکلونو له مخې وکړای شي اړوند عددولیکي.

یو عدد په ۳ ډوله لیکلای شي.



۳ سلی۱ لسي ۴ یودانه یې
۴ + ۱۰ + ۳۰۰
۳۱۴

د خپل یوه ملګري سره کاروکړئ د حل شوي مثال څخه په کاراخستو سره عدد پـــه ۳ ډوله ولیکئ:

۱. 

_____ سلیز _____ لسیز _____ یویز

_____ + _____ + _____

_______

۲. 

_____ سلیز _____ لسیز _____ یویز

_____ + _____ + _____

_______

۳. 

_____ سلیز _____ لسیز _____ یویز

_____ + _____ + _____

_______

۴. 

_____ سلیز _____ لسیز _____ یویز

_____ + _____ + _____

___

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱.  ۱ سليز ۱ لسيز ۱۲ يويز




۲. شکل ته وګورئ له يويزو څخه يوبل لسی يا لسيز جوړ کړئ.






۳. ۱ سلئ ۲ لسئ ۲ يودانه يي ۱۲۲

۱. له لسيو (لسيزو) څخه د سليو(سليزو) ګروپ جوړ کړئ او اړوند عدد يې وليکئ.



۱ سلي ۱ لسی ۷ يودانه يي

۱۱۷

---

۲. 

____ سلي ____ لسي ____ يودانه يي

____ + ____ + ____

____

---

۳. 

____ سلي ____ لسي ____ يودانه يي

____ + ____ + ____

____

---

۴. 

____ سلي ____ لسي ____ يودانه يي

____ + ____ + ____

____

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندي جدول د عددونو سلسله (پرله پسي توب) له ۱۰۰–۵۰۰ پوري ښيي.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۱۰۱ | ۱۰۲ | ۱۰۳ | ۱۰۴ | ۱۰۵ | ۱۰۶ | ۱۰۷ | ۱۰۸ | ۱۰۹ |
| ۱۱۰ | ۱۱۱ | ۱۱۲ | ۱۱۳ | ۱۱۴ | ۱۱۵ | ۱۱۶ | ۱۱۷ | ۱۱۸ | ۱۱۹ |
| ۱۲۰ | ۱۲۱ | ۱۲۲ | ۱۲۳ | ۱۲۴ | ۱۲۵ | ۱۲۶ | ۱۲۷ | ۱۲۸ | ۱۲۹ |
| ۱۳۰ | ۱۳۱ | ۱۳۲ | ۱۳۳ | ۱۳۴ | ۱۳۵ | ۱۳۶ | ۱۳۷ | ۱۳۸ | ۱۳۹ |
| ۱۴۰ | ۱۴۱ | ۱۴۲ | ۱۴۳ | ۱۴۴ | ۱۴۵ | ۱۴۶ | ۱۴۷ | ۱۴۸ | ۱۴۹ |
| ۱۵۰ | ۱۵۱ | ۱۵۲ | ۱۵۳ | ۱۵۴ | ۱۵۵ | ۱۵۶ | ۱۵۷ | ۱۵۸ | ۱۵۹ |
| ۱۶۰ | ۱۶۱ | ۱۶۲ | ۱۶۳ | ۱۶۴ | ۱۶۵ | ۱۶۶ | ۱۶۷ | ۱۶۸ | ۱۶۹ |
| ۱۷۰ | ۱۷۱ | ۱۷۲ | ۱۷۳ | ۱۷۴ | ۱۷۵ | ۱۷۶ | ۱۷۷ | ۱۷۸ | ۱۷۹ |
| ۱۸۰ | ۱۸۱ | ۱۸۲ | ۱۸۳ | ۱۸۴ | ۱۸۵ | ۱۸۶ | ۱۸۷ | ۱۸۸ | ۱۸۹ |
| ۱۹۰ | ۱۹۱ | ۱۹۲ | ۱۹۳ | ۱۹۴ | ۱۹۵ | ۱۹۶ | ۱۹۷ | ۱۹۸ | ۱۹۹ |
| ۲۰۰ | ۲۰۱ | ۲۰۲ | ۲۰۳ | ۲۰۴ | ۲۰۵ | ۲۰۶ | ۲۰۷ | ۲۰۸ | ۲۰۹ |
| ۲۱۰ | ۲۱۱ | ۲۱۲ | ۲۱۳ | ۲۱۴ | ۲۱۵ | ۲۱۶ | ۲۱۷ | ۲۱۸ | ۲۱۹ |
| ۲۲۰ | ۲۲۱ | ۲۲۲ | ۲۲۳ | ۲۲۴ | ۲۲۵ | ۲۲۶ | ۲۲۷ | ۲۲۸ | ۲۲۹ |
| ۲۳۰ | ۲۳۱ | ۲۳۲ | ۲۳۳ | ۲۳۴ | ۲۳۵ | ۲۳۶ | ۲۳۷ | ۲۳۸ | ۲۳۹ |
| ۲۴۰ | ۲۴۱ | ۲۴۲ | ۲۴۳ | ۲۴۴ | ۲۴۵ | ۲۴۶ | ۲۴۷ | ۲۴۸ | ۲۴۹ |
| ۲۵۰ | ۲۵۱ | ۲۵۲ | ۲۵۳ | ۲۵۴ | ۲۵۵ | ۲۵۶ | ۲۵۷ | ۲۵۸ | ۲۵۹ |
| ۲۶۰ | ۲۶۱ | ۲۶۲ | ۲۶۳ | ۲۶۴ | ۲۶۵ | ۲۶۶ | ۲۶۷ | ۲۶۸ | ۲۶۹ |
| ۲۷۰ | ۲۷۱ | ۲۷۲ | ۲۷۳ | ۲۷۴ | ۲۷۵ | ۲۷۶ | ۲۷۷ | ۲۷۸ | ۲۷۹ |
| ۲۸۰ | ۲۸۱ | ۲۸۲ | ۲۸۳ | ۲۸۴ | ۲۸۵ | ۲۸۶ | ۲۸۷ | ۲۸۸ | ۲۸۹ |
| ۲۹۰ | ۲۹۱ | ۲۹۲ | ۲۹۳ | ۲۹۴ | ۲۹۵ | ۲۹۶ | ۲۹۷ | ۲۹۸ | ۲۹۹ |
| ۳۰۰ | ۳۰۱ | ۳۰۲ | ۳۰۳ | ۳۰۴ | ۳۰۵ | ۳۰۶ | ۳۰۷ | ۳۰۸ | ۳۰۹ |
| ۳۱۰ | ۳۱۱ | ۳۱۲ | ۳۱۳ | ۳۱۴ | ۳۱۵ | ۳۱۶ | ۳۱۷ | ۳۱۸ | ۳۱۹ |
| ۳۲۰ | ۳۲۱ | ۳۲۲ | ۳۲۳ | ۳۲۴ | ۳۲۵ | ۳۲۶ | ۳۲۷ | ۳۲۸ | ۳۲۹ |
| ۳۳۰ | ۳۳۱ | ۳۳۲ | ۳۳۳ | ۳۳۴ | ۳۳۵ | ۳۳۶ | ۳۳۷ | ۳۳۸ | ۳۳۹ |
| ۳۴۰ | ۳۴۱ | ۳۴۲ | ۳۴۳ | ۳۴۴ | ۳۴۵ | ۳۴۶ | ۳۴۷ | ۳۴۸ | ۳۴۹ |
| ۳۵۰ | ۳۵۱ | ۳۵۲ | ۳۵۳ | ۳۵۴ | ۳۵۵ | ۳۵۶ | ۳۵۷ | ۳۵۸ | ۳۵۹ |
| ۳۶۰ | ۳۶۱ | ۳۶۲ | ۳۶۳ | ۳۶۴ | ۳۶۵ | ۳۶۶ | ۳۶۷ | ۳۶۸ | ۳۶۹ |
| ۳۷۰ | ۳۷۱ | ۳۷۲ | ۳۷۳ | ۳۷۴ | ۳۷۵ | ۳۷۶ | ۳۷۷ | ۳۷۸ | ۳۷۹ |
| ۳۸۰ | ۳۸۱ | ۳۸۲ | ۳۸۳ | ۳۸۴ | ۳۸۵ | ۳۸۶ | ۳۸۷ | ۳۸۸ | ۳۸۹ |
| ۳۹۰ | ۳۹۱ | ۳۹۲ | ۳۹۳ | ۳۹۴ | ۳۹۵ | ۳۹۶ | ۳۹۷ | ۳۹۸ | ۳۹۹ |
| ۴۰۰ | ۴۰۱ | ۴۰۲ | ۴۰۳ | ۴۰۴ | ۴۰۵ | ۴۰۶ | ۴۰۷ | ۴۰۸ | ۴۰۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۱۹ | ۴۱۸ | ۴۱۷ | ۴۱۶ | ۴۱۵ | ۴۱۴ | ۴۱۳ | ۴۱۲ | ۴۱۱ | ۴۱۰ |
| ۴۲۹ | ۴۲۸ | ۴۲۷ | ۴۲۶ | ۴۲۵ | ۴۲۴ | ۴۲۳ | ۴۲۲ | ۴۲۱ | ۴۲۰ |
| ۴۳۹ | ۴۳۸ | ۴۳۷ | ۴۳۶ | ۴۳۵ | ۴۳۴ | ۴۳۳ | ۴۳۲ | ۴۳۱ | ۴۳۰ |
| ۴۴۹ | ۴۴۸ | ۴۴۷ | ۴۴۶ | ۴۴۵ | ۴۴۴ | ۴۴۳ | ۴۴۲ | ۴۴۱ | ۴۴۰ |
| ۴۵۹ | ۴۵۸ | ۴۵۷ | ۴۵۶ | ۴۵۵ | ۴۵۴ | ۴۵۳ | ۴۵۲ | ۴۵۱ | ۴۵۰ |
| ۴۶۹ | ۴۶۸ | ۴۶۷ | ۴۶۶ | ۴۶۵ | ۴۶۴ | ۴۶۳ | ۴۶۲ | ۴۶۱ | ۴۶۰ |
| ۴۷۹ | ۴۷۸ | ۴۷۷ | ۴۷۶ | ۴۷۵ | ۴۷۴ | ۴۷۳ | ۴۷۲ | ۴۷۱ | ۴۷۰ |
| ۴۸۹ | ۴۸۸ | ۴۸۷ | ۴۸۶ | ۴۸۵ | ۴۸۴ | ۴۸۳ | ۴۸۲ | ۴۸۱ | ۴۸۰ |
| ۴۹۹ | ۴۹۸ | ۴۹۷ | ۴۹۶ | ۴۹۵ | ۴۹۴ | ۴۹۳ | ۴۹۲ | ۴۹۱ | ۴۹۰ |
| | | | | | | | | | ۵۰۰ |

تمرین: د ۱۰۵ عدد په چوت کې ښودل شوی دی له هغه څخه په کــار اخستلو سره د۱۰۹،۱۰۸ او ۱۲۰ عددونه په چوت کې وښایاست.




**کورنی دنده:** په خپلو کتابچو کې د۲۰۱ او ۲۱۰ عددونه په چوت کې وښایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیرشم لوست

## مخ کې، وروسته، منځ کې

هدف: په دې لوست کې زده کوونکي باید دیوه عدد نه مخ کې عدد، دیوه عدد څخه وروسته او هغه عدد چې ددوو عددونو په منځ کې دی وپیژني.

**هغه عدد ولیکئ چې یو عدد مخ کې راځي.**

| | | |
|---|---|---|
| ۱. ۲۷۷ ، ۲۷۸ | ____ ، ۵۴۶ | ____ ، ۱۲۷ |
| ۲. ____ ، ۳۲۹ | ____ ، ۴۴۰ | ____ ، ۷۸۱ |
| ۳. ____ ، ۶۳۰ | ____ ، ۹۱۷ | ____ ، ۸۴۶ |

**هغه عدد ولیکئ چې یو عدد وروسته راځي.**

| | | |
|---|---|---|
| ۴. ۱۱۲، ____ | ۳۱۹، ____ | ۸۵۵، ____ |
| ۵. ۴۷۸، ____ | ۹۹۸، ____ | ۲۵۲، ____ |
| ۶. ۵۹۱، ____ | ۷۴۳، ____ | ۶۶۹، ____ |

**هغه عدد ولیکئ چې د لاندې درکړل شوي عددونو په منځ کې راځي.**

| | | |
|---|---|---|
| ۷. ۱۱۸، ____ ، ۱۲۰ | ۴۹۹، ____ ، ۵۰۱ | ۷۸۷، ____ ، ۷۸۹ |
| ۸. ۶۴۲، ____ ، ۶۴۳ | ۲۹۹، ____ ، ۳۰۱ | ۹۵۳، ____ ، ۹۵۵ |
| ۹. ۸۲۷، ____ ، ۸۲۹ | ۳۳۵، ____ ، ۳۳۷ | ۳۷۸، ____ ، ۳۸۰ |

**۱۰. ټول هغه عددونه چې د ۵۴۰ او ۵۶۰ په منځ کې دي ولیکئ.**

**کورنۍ دنده:**

مخ کې وروسته یا منځ کې عددونه ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۱. ۲۲۲، ____ ، ۲۲۴ | ، ____ ، ۱۹۶ | ۲۳۴، ____ |
| ۲. ____ ، ۴۲۱ | ۶۴۹، ____ ، ۶۵۱ | ۹۱۹، ____ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوديرشم لوست

## د عددونو پرتله

هدف: زده كوونكي بايد كوچني او لوی عددونه يوله بله سره تشخيص او همدارنګه دوه مساوي عددونه وپيژني د >، < او = نښې وكاروي.

| > | < | = |
|---|---|---|
| دا > نښه زيات راښيي<br>۳۴۲ > ۱۱۱<br>۳۴۲ زيات له ۱۱۱ څخه دي | دانښه < لږ راښيي<br>۱۱۱ < ۳۴۲<br>۱۱۱ لږ له ۳۴۲ څخه دي. | دا = نښه مساوي راښيي.<br>۱۵۰ = ۱۵۰<br>۱۵۰ مساوي له ۱۵۰ سره دي |

د عددونو هره جوړه د (<، > يا =) نښې په دايره كې په ايښودلوسره پرتله كړي.

۱. ۴۲۳ (>) ۳۵۳ — ۵۰۱ ( ) ۴۹۲ — ۲۷۱ ( ) ۲۷۱

۲. ۵۴۷ ( ) ۴۹۹ — ۷۷۷ ( ) ۸۱۲ — ۱۴۲ ( ) ۲۴۲

۳. ۶۸۷ ( ) ۸۲۱ — ۳۱۷ ( ) ۳۱۷ — ۹۲۸ ( ) ۹۲۹

۴. ۶۲۵ ( ) ۶۲۵ — ۴۱۸ ( ) ۲۵۷ — ۵۸۹ ( ) ۵۸۹

۵. ۱۲۹ ( ) ۱۷۲ — ۳۶۴ ( ) ۲۸۱ — ۶۶۹ ( ) ۵۶۹

۶. ۲۳۰ ( ) ۱۰۰ — ۷۶۸ ( ) ۸۰۱ — ۴۱۲ ( ) ۴۱۲

تاسو د ۳۰۰ او ۴۰۰ په منځ كې مناسب عددونه د لاندې پوښتنو په حل كــې استعمال كړئ.

۷. ____ (>) ____ — ____ (=) ____ — ____ (<) ____

۸. ____ (<) ____ — ____ (<) ____ — ____ (=) ____

**كورنۍ دنده:** معما حل كړئ.

۱. زه يو عدديم چې له ٦٧٥ څخه لږ اوله ٦٦٧ څخه زيات يم په داسې توګه چې زما ديويز رقم ۲ دی. زه كوم عدد يم؟

۲. د يوه عدد په برخه كې يوه معما وليكئ او هغه خپل ملګري ته وركړئ چې حل يې كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه دېرشم لوست
## د عددونو ترتیب نظر په مقامي ارزښت سره

هدف: زده کوونکي عددونه نظر په مقامي ارزښت سره ترتیب او دځایونو تآکل وکړاي شي.

دیوه کتاب له فهرست څخه دا مخونه په نظر کې نیسو.

| فهرست |
| --- |
| ۶فصل ........ ۳۱۸ |
| ۷فصل ....... ۳۳۷ |
| ۸فصل ....... ۴۰۰ |
| ۹فصل ....... ۴۲۰ |
| ۱۰فصل ....... ۴۶۲ |

دا عددونه له ډېر کوچني عدد څخه د لوی عدد خواته ترتیب شوي دي

۳۱۸، ۳۳۷، ۴۰۰، ۴۲۰، ۴۶۲

او دا عددونه د ډېر لوی عددڅخه دکوچني عدد خواته ترتیب شوي دي ۴۶۲،۴۲۰، ۴۰۰،۳۳۷، ۳۱۸

لاندې عددونه د ډېر لږو څخه د ډېر زیاتو خواته ترتیب او ویې لیکئ.

۱. ۱۱۹، ۹۳، ۱۲۵، ۲۰۱ ______، ______، ______، ______

۲. ۲۹۶، ۲۲۸، ۲۵۲، ۲۸۳ ______، ______، ______، ______

۳. ۷۷، ۴۱۵، ۶۹۰، ۱۵۲ ______، ______، ______، ______

لاندې عددونه د ډېرو زیاتو څخه د ډېرو لږو خواته ترتیب او ویې لیکئ.

۴. ۳۴۸، ۲۲۰، ۴۶۴، ۷۳۲ ______، ______، ______، ______

۵. ۶۰۵، ۹۷۳، ۷۵۱، ۴۸۹ ______، ______، ______، ______

۶. ۲۴۵، ۲۱۷، ۲۷۳، ۲۲۹ ______، ______، ______، ______

۷. د ۸، ۲ او ۶ رقمونو په کارولو سره کوم درې رقمي عددونه لیکلای او جوړولای شئ؟

____ ____ ____ ____ ____ ____ ____ ____ ____

۸. د خپلې خوښې عددونه د ډېر لږو څخه د ډېر لوی خواته ترتیب او ویې لیکئ

ډېر لږ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ډېر زیات

کورنۍ دنده: څلور عددونه په ترتیب سره د ډېر زیات څخه د ډېر کوچني عدد خواته ترتیب کړئ دا عددونه د ۶۰۰ او ۸۰۰ ترمنځ وټاکئ.

______، ______، ______، ______

(c) ketabton.com: The Digital Library




## تر ۱۰۰۰ دعددونو مشق او تمرین

لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست.

د ۴۶۴ او ۷۰۹ عددونه استعمال کړئ ترڅو هرې پوښتنې ته ځواب ووایاست.

۱. د کوم عدد یویز ۴ دی؟

۲. د کوم عدد لسیز صفر دی؟

۳. د کوم عدد لسیز ۶ دی؟

۴. د کوم عدد سلیز ۷ دی؟

۵. د کوم عدد سلیز او لسیز سره مساوي دي؟

۶. کوم عدد لوي دی؟ ______

---

عدد په درې ډوله ولیکئ.

۷. 

______ سل ______ لسه ______ یو

______ + ______ + ______

______

---

۸. 

______ سل ______ لسه ______ یو

______ + ______ + ______

______

شکلونه خپلو کتابچو کې رسم کړئ له یویزو او لسیزو څخه په ترتیب سره د لسو او سلو ګروپونه جوړ او د هغو د شاوخوا څخه دایره وکاږئ او اړونـد عـدد یـې ولیکئ.

۱. 

______ سل ______ لسه ______ یو

______ + ______ + ______

(c) ketabton.com: The Digital Library



______

۲. 

___ سل ___ لسه ___ یو

___ + ___ + ___

______

۳. 

___ سل ___ لسه ___ یو

___ + ___ + ___

______

پوښتني کتابچو ته نقل کړئ اوپه دایره کې د <،> یا = مناسبه نښه ولیکئ.

۴. ۲۰۷ ◯ ۷۰۲    ۱۱۶ ◯ ۱۶۱    ۲۲۰ ◯ ۱۲۱

۵. ۴۳۷ ◯ ۷۴۳    ۳۳۲ ◯ ۲۳۳    ۳۱۲ ◯ ۱۲۳

د حل شوي مثال سره سم تش ځایونه ډک کړئ.

۶. ۶۰۵، ۶۱۵، ۶۲۵، ۶۳۵    ۸۰۰، ۸۰۵، ۸۱۰، ___

۷. ۳۴۰، ۳۵۰، ۳۶۰، ___    ۵۹۹، ۶۹۹، ۷۹۹، ___

۸. ۳۲۲، ۳۳۲، ۳۴۲، ___    ۷۲۰، ۷۲۴، ۷۲۸، ___

مخ کې عدد وروسته عدد اومنځ کې عدد ولیکئ.

۹. ___، ۴۳۶    ۸۰۹، ___ ، ۸۱۱    ۱۷۰، ___

۱۰. ۶۳۷، ___، ۶۳۹    ۳۳۳، ___    ۴۴۴، ___

**کورنۍ دنده:** که چیرې ټول تمرینونه په ټولګي کې حل نه شول پاتې پوښتنې په کور کې حل کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم فصل

## د درې رقمي عددونو جمع او تفریق

### درې دېرشم لوست

### د درې رقمي عددونو جمع او تفریق

### د څو سلګونو جمع کول

هدف: په دې لوست کې زده کوونکي په درې رقمي (څوسلګونو) عددونوکې جمع او تفریق سرته ورسولای شي.

د چوکات له وزنونو څخه کوم يې سره جمع شي ترڅو د موټر بار بشپړ شي.

| | | |
|---|---|---|
| ۵۰۰ کیلوګرامه | ۵۰۰ کیلوګرامه | |
| ۱۰۰ کیلوګرامه | ۷۰۰ کیلوګرامه | |
| ۱۰۰ کیلوګرامه | ۵۰۰ کیلوګرامه | ۲۰۰ کیلوګرامه |
| ۸۰۰ کیلوګرامه | ۳۰۰ کیلوګرامه | ۶۰۰ کیلوګرامه |




۱. 


۵ سله = ۲ سله + ۳ سله

۵۰۰ = ۲۰۰ + ۳۰۰

---

معلوم يې کړئ چې ټوله څو سله کېږي جمع يې کړئ.

۱. 

____ سله = ____ سله + ____ سله

____ = ____ + ____

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. 

____ سله = ____ سله + ____ سله

____ = ____ + ____

---

۳. 

____ سله = ____ سله + ____ سله

____ = ____ + ____

---

۴. 

____ سله = ____ سله + ____ سله

____ = ____ + ____

---

۵. 

____ سله<br>
\+ ____ سله<br>
____ سله

____<br>
\+ ____<br>
____

---

٦. 

____ سله<br>
\+ ____ سله<br>
____ سله

____<br>
\+ ____<br>
____

---

**کورنۍ دنده:** تاسو په خپله دلرګوټو بنډلونه رسم کړئ اوسليز يې سره جمع کړئ.

٧.

____ سله<br>
\+ ____ سله<br>
____ سله

____<br>
\+ ____<br>
____

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلور دېرشم لوست

## ديوه درې رقمي عدد جمع كول له يوه درې رقمي عددسره چې ديويز او لسيز رقمونه يې صفر وي

هدف:زده کوونکي يو درې رقمي عدد له بل يو درې رقمي عدد سره چې ديويز او لسيز رقمونه يې صفر وي جمع کړاي شي.

جمع.

۱. 

۸۳۱ = توله

۳ سله ۳ لسه ۱ يو
۵ سله ۰ لسه ۰ يو
۸ سله ۳ لسه ۱ يو

۳۳۱
+ ۵۰۰
۸۳۱

۲. 

___ سله ___ لسه ___ يو
___ سله ___ لسه ___ يو
___ سله ___ لسه ___ يو

___
+ ___
___

۳. 

___ سله ___ لسه ___ يو
___ سله ___ لسه ___ يو
___ سله ___ لسه ___ يو

___
+ ___
___

۴- ۲۷۳ + ۳۰۰   ۱۸۷ + ۵۰۰   ۶۱۲ + ۱۰۰   ۴۳۹ + ۵۰۰   ۶۴۳ + ۲۰۰

۵- ۵۲۷ + ۱۰۰   ۷۲۸ + ۲۰۰   ۴۸۳ + ۳۰۰   ۵۱۲ + ۱۰۰   ۳۷۴ + ۴۰۰

**کورنۍ دنده:** جمع يې کړئ.

۱. ۸۴۷ + ۱۰۰   ۲۴۷ + ۷۰۰   ۴۸۲ + ۲۰۰   ۳۷۱ + ۵۰۰   ۵۴۷ + ۳۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه دېرشم لوست

## د درې رقمي عددونو جمع کول

هدف: زده کوونکي ټول درې رقمي عددونه يوله بله سره جمع کړاي شي.

د اماني ښوونځي يو لوی سالون د زده کوونکو دکارونو د ښودلو له پاره لري.



د پنجشنبې په ورځ ۲۴۷ تنه راغلل.
او د چهارشنبې په ورځ ۱۳۲ تنه راغلل.
دې سالون ته ټول څو تنه راغلي دي؟




| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| ۲ | ۴ | ۷ |
| + ۱ | ۳ | ۲ |
| ۳ | ۷ | ۹ |

۹ يو ۷ لسه ۳ سله

۳۷۹

۳۷۹ تنه د لوبغاړي سالون ته راغلي دي




پوښتنه: ولې مونږ لومړي يويز جمع کوو؟

د خپل ملګري سره کار وکړئ له يويزو څخه يې پيل کړئ او جمع يې کړئ.

.۱

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۵ |
| + ۳ | ۳ | ۴ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| ۳ | ۱ | ۴ |
| + ۱ | ۲ | ۵ |
| | | |

.۲

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| ۳ | ۱ | ۶ |
| + ۲ | ۵ | ۱ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| ۴ | ۲ | ۲ |
| + ۵ | ۱ | ۵ |
| | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۲ | ۷ | ۵ |
| + ۴ | ۱ | ۹ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۶ | ۳ | ۷ |
| + ۱ | ۶ | ۱ |
| | | |

۴.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۵ | ۳ | ۸ |
| + ۱ | ۵ | ۰ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۴ | ۵ | ۴ |
| + ۱ | ۱ | ۴ |
| | | |

۵. جمع یې کړي:

۱۲۹ + ۳۰    ۳۴۱ + ۱۲۸    ۱۷۰ + ۳۱۲    ۲۰۶ + ۱۷۲    ۶۱۲ + ۳۵

۶. ۴۰۳ + ۲۱۴    ۱۵۹ + ۲۲۰    ۳۲۵ + ۷۱    ۵۰۸ + ۲۱۰    ۴۱۲ + ۴۴

۷. ۳۳۱ + ۵۱۷    ۱۱۱ + ۴۴۳    ۵۳۷ + ۲۱    ۷۷۱ + ۱۰۸    ۸۲۳ + ۱۶۴

## کورنۍ دنده:

په تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

۱.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ☐ | ۱ | ☐ |
| + ۲ | ☐ | ۶ |
| ۹ | ۸ | ۹ |

۲.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۲ | ☐ | ۶ |
| + ☐ | ۵ | ☐ |
| ۶ | ۶ | ۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ دیرشم لوست
## د درې رقمي عددونو جمع کول چې حاصل ولري

هدف: زده کوونکي وکولای شي د درې رقمي عدد جمع کولو کې حاصل ونيسي او د جمعې عمليه په صحيح توګه سرته ورسوي.

مونږ سلیز، لسیز او یویز په لاندې توګه جمع کولای شو.

لومړی: یویز سره جمع کړئ که چېرې حاصل ولري دوروستي رقم سره یې جمع کړئ.




۳۶۴
+۲۷۳
۷

دوهم: لسیز سره جمع کړئ که چېرې حاصل ولري دوروستي رقم سره یې جمع کړئ.




۱
۳۶۴
+۲۷۳
۳۷

۶
+۷
۱۳




۱
۳۶۴
+۲۷۳
۶۳۷

جمع یې کړئ.

۱-

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| ☐ | ۱ | |
| ۴ | ۳ | ۶ |
| + ۲ | ۵ | ۷ |
| ۶ | ۹ | ۳ |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| ☐ | ☐ | |
| ۱ | ۶ | ۲ |
| + ۵ | ۳ | ۶ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| ☐ | ☐ | |
| ۳ | ۲ | ۹ |
| + ۳ | ۵ | ۴ |
| | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**جمع:** که چېرې اړتیاوې حاصل ونیسئ.

**۲.**

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۲ | ۴ | ۹ |
| + ۱ | ۳ | ۶ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۴ | ۰ | ۹ |
| + ۲ | ۱ | ۳ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| | ۵ | ۳ |
| + ۵ | ۵ | ۴ |
| | | |

**۳.**

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۲ | ۷ | ۴ |
| + | ۶ | ۱ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۴ | ۵ | ۳ |
| + ۵ | ۱ | ۲ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| ۴ | ۲ | ۵ |
| + ۵ | ۴ | ۸ |
| | | |

**۴.**

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۱ | ۳ | ۵ |
| + ۵ | ۲ | ۴ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۳ | ۴ | ۷ |
| + | ۷ | ۲ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۲ | ۸ | ۱ |
| + ۳ | ۵ | ۶ |
| | | |

**۵.**

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۴ | ۰ | ۷ |
| + ۳ | ۱ | ۵ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۵ | ۶ | ۹ |
| + | ۶ | ۰ |
| | | |

| سليز | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| □ | □ | |
| ۶ | ۳ | ۷ |
| + ۲ | ۴ | ۵ |
| | | |

**کورنۍ دنده:** حل یې کړئ.

د فېروز ټولګي ۳۷۸ کارتونه جوړ کړل.

د مرجان ټولګي ۲۶۵ کارتونه جوړ کړل.

دواړو ټولګیو ټوله څو کارتونه جوړ کړي دي؟

□
\+ □
□

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درې رقمي عددونو د جمعې مشق او تمرین:

تاسو درې رقمي عددونه جمع کولای شئ.

په دې ډول:

**لومړی:** یویز جمع کړئ که چېرې اړتیاوې حاصل ونیسئ.

**دویم:** لسیز جمع کړئ که چېرې اړتیاوې حاصل ونیسي.

**دریم:** سلیز سره جمع کړئ

| لومړی | دویم | دریم |
|---|---|---|
| (۱) | (۱)(۱) | (۱)(۱) |
| ۲ ۶ ۷ | ۲ ۶ ۷ | ۲ ۶ ۷ |
| + ۲ ۹ ۶ | + ۲ ۹ ۶ | + ۲ ۹ ۶ |
| ۳ | ۶ ۳ | ۵ ۶ ۳ |

۱۳

جمع یې کړئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱. | ۳۷۴ + ۱۴۷ | ۲۴۵ + ۴۵۸ | ۵۶۷ + ۳۳۳ | ۱۴۹ + ۷۵ | ۱۹۲ + ۴۴ | ۸۵ + ۱۹۷ |
| ۲. | ۳۶ + ۷۳ | ۲۳۸ + ۴۴ | ۴۵۵ + ۱۴۵ | ۵۸۶ + ۳۶۴ | ۱۷۷ + ۱۶۸ | ۶۱۴ + ۱۸۷ |
| ۳. | ۱۹۸ + ۲۶۷ | ۲۵۳ + ۳۳۵ | ۴۹۴ + ۳۶۳ | ۵۱۷ + ۴۶۷ | ۳۴۶ + ۳۶۴ | ۱۲۳ + ۳۴۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوه دیرشم لوست

## د درې رقمي عددونو تفریق د قرض (پور) اخستلو پرته

**هدف**: زده کوونکي درې رقمي عددونه له درې رقمي عددونو څخه له پور اخستلو پرته تفریق کړای شي.




| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۴ | ۵ | ۷ |
| − ۳ | ۳ | ۲ |
| ۱ | ۲ | ۵ |




په ډله ایز توګه کار وکړئ.

۱.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۷ | ۲ | ۶ |
| − ۱ | ۱ | ۵ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۶ | ۸ | ۹ |
| − ۴ | ۷ | ۳ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۵ | ۳ | ۷ |
| − ۲ | ۱ | ۶ |
| | | |

۲.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۴ | ۹ | ۴ |
| − ۱ | ۰ | ۳ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۹ | ۷ | ۱ |
| − ۳ | ۲ | ۰ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۸ | ۴ | ۴ |
| − ۳ | ۲ | ۱ |
| | | |

۳. ۶۷۹ − ۱۵۱    ۴۸۷ − ۲۳۷    ۳۸۹ − ۶۴    ۵۷۳ − ۱۳۰    ۶۵۹ − ۲۷

۴. ۶۸۹ − ۲۵۳    ۵۸۷ − ۳۳۷    ۴۸۹ − ۱۶۴    ۶۷۳ − ۱۳۲    ۶۵۹ − ۴۳۷

**کورنۍ دنده**: د دې لوست ټولې پوښتنې حل کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اته دیرشم لوست

## د درې رقمي عددونو تفریق په پور (قرض) اخستلو سره

هدف: زده کوونکي وکولاي شي له یوه درې رقمي عدد څخه درې رقمي عدد که چېرې پور اخستلوته اړتیاوې تفریق کړاي شي.

تاسو د ۱۴۶ عدد له ۳۱۸ څخه په لاندې توګه تفریق کولای شئ.

لومړي: یویز تفریق کړي که چېرې اړتیاوې د لسیزو لـه مرتبې څخه پور واخلئ (لسیز، په یوه دانه یې بدلې کړئ)




$$\begin{array}{r} ۳۱۸ \\ -۱۴۶ \\ \hline ۲ \end{array}$$

دویم: لسیز تفریـــق کړئ کــه چېـــرې اړتیاوې د ســـلیزو څخه پور واخلئ.




$$\begin{array}{r} \boxed{۲}\boxed{۱۱} \\ ۳۱۸ \\ -۱۴۶ \\ \hline ۷۲ \end{array} \qquad \begin{array}{r} ۱۱ \\ -۴ \\ \hline ۷ \end{array}$$

په دې لوست کې مونږ یو سلی په ۱۰ لسونو بدل کړی دی.

دریم: سلیز تفریق کړئ.




$$\begin{array}{r} \boxed{۲}\boxed{۱۱} \\ \cancel{۳}\,\cancel{۱}\,۸ \\ -۱۴۶ \\ \hline ۱۷۲ \end{array}$$

۱- په جوړه یې توګه د خپل یوه ملګري سره کار وکړئ لومړی یویز تفریـــق کړئ که چېرې پور اخستلو ته اړتیاوې د لسیزو له مرتبې څخه پور واخلئ.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ☐ | ☐ | ☐ |
| ۴ | ۶ | ۱ |
| - ۲ | ۵ | ۳ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ☐ | ☐ | ☐ |
| ۷ | ۴ | ۵ |
| - ۵ | ۳ | ۱ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ☐ | ۸ | ۱۵ |
| ۶ | ۹ | ۵ |
| - ۲ | ۴ | ۸ |
| ۴ | ۴ | ۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۵ | ۳ | ۷ |
| − ۳ | ۱ | ۹ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۷ | ۲ | ۱ |
| − ۴ | ۱ | ۴ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۴ | ۲ | ۹ |
| − ۱ | ۶ | ۱ |
| | | |

۳.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۶ | ۴ | ۵ |
| − ۲ | ۱ | ۸ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۵ | ۸ | ۹ |
| − | ۹ | ۲ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۷ | ۴ | ۱ |
| − ۲ | ۳ | ۰ |
| | | |

۴.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۸ | ۴ | ۶ |
| − | ۹ | ۵ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۹ | ۳ | ۶ |
| − ۴ | ۲ | ۶ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۷ | ۵ | ۹ |
| − ۶ | ۱ | ۳ |
| | | |

۵.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۴ | ۵ | ۰ |
| − ۳ | ۶ | ۰ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۵ | ۳ | ۷ |
| − | ۶ | ۴ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| □ | □ | □ |
| ۷ | ۲ | ۵ |
| − | ۹ | ۱ |
| | | |

**کورنۍ دنده:** په تش ځایونوکي مناسب عددونه ولیکئ.

۱.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۵ | □ | ۷ |
| − ۲ | ۴ | □ |
| ۳ | ۰ | ۹ |

۲.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۵ | □ | ۷ |
| − ۲ | ۴ | □ |
| □ | ۸ | ۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دپور اخستلو په صورت کې د تفريق مشق او تمرين

تاسو درې رقمي عددونه په لاندې توګه تفريق کولای شئ.

لومړی: يويز تفريق کړئ که چېرې اړتياوې پور واخلئ .

دويم : لسيز تفريق کړئ کــه چېرې اړتياوې پور واخلئ .

دريم: سليز تفريق کړئ.

| لومړی | دويم | دريم |
|---|---|---|
| (۳)(۱۲) | (۵)(۱۳)(۱۲) | (۵)(۱۳)(۱۲) |
| ۶۴۲ | ۶۴۲ | ۶۴۲ |
| − ۲۶۷ | − ۲۶۷ | − ۲۶۷ |
| ۵ | ۷۵ | ۳۷۵ |
| ۱۲ − ۷ = ۵ | ۱۳ − ۶ = ۷ | |

فرق يې ۳۷۵ دی

تفريق يې کړئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱. | ۳۴۶ − ۱۶۳ | ۵۱۶ − ۳۵۵ | ۴۲۹ − ۱۵۶ | ۸۴۰ − ۴۱۵ | ۸۳۷ − ۴۷۲ | ۴۱۷ − ۳۳۲ |
| ۲. | ۷۶۳ − ۲۸۴ | ۴۸۰ − ۱۲۶ | ۵۹۳ − ۳۲۸ | ۹۶۳ − ۷۸۹ | ۷۵۴ − ۶۵۷ | ۸۱۶ − ۴۳۲ |
| ۳. | ۶۵۵ − ۳۷۷ | ۵۷۶ − ۱۳۸ | ۳۶۵ − ۱۸۷ | ۵۷۴ − ۱۸۸ | ۷۲۵ − ۲۵۶ | ۹۳۲ − ۵۵۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه دېرشم لوست

## د يوه درى رقمي عدد تفريق ديوه درې رقمي عدد څخه چې يويز او لسيز يې صفر وي

هدف: زده کوونکي دصفر لرونکي درې رقمي عددونو څخه درې رقمي عددونه تفريق کړاي شي.

تاسو د صفر لرونکو عددونوڅخه د نورو عددونو تفريق په لاندې ډول کولاى شئ.

لومړي: يويز تفريق کـــړئ لسيز صفر دى چې په يويزو بدل شي.



۴ ۰ ۰
− ۱ ۳ ۶

دوهم: سليز په لسونو سره بدل کړئ لکـــه ۱۰ لسونه.



۳ ۱۰
~~۴~~ ~~۰~~ ۰
− ۱ ۳ ۶

دريم: يولسي په ۱۰ يودانه يې سره بـــدل کړئ.



~~۳~~ ~~۹~~ ۱۰
۴ ۰ ۰
− ۱ ۳ ۶

څلورم تفريق يې کړئ.



(۳)(۹)(۱۰)
۴ ۰ ۰
− ۱ ۳ ۶
۲ ۶ ۴

تفريق يې کړئ، يوځاى کار وکړئ.

۱. (۷)(۱۰)(۱۰) ۸۱۰ − ۳۲۵ = ۴۸۵ ، ۵۴۰ − ۲۷۳ ، ۴۰۰ − ۱۵۸ ، ۷۰۰ − ۳۶۳ ، ۶۰۳ − ۴۸۹ ، ۵۰۶ − ۴۹

۲. ۳۰۰ − ۱۲۳ ، ۹۰۸ − ۲۸۰ ، ۷۰۰ − ۵۴۰ ، ۵۰۰ − ۱۲۴ ، ۳۰۰ − ۳۷ ، ۲۷۰ − ۲۰۷ ، ۹۰۳ − ۳۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درو رقمي عددونو د جمعي او تفريق مشق او تمرين:




دا لوست تکراري دی او د جمعي د عمليې په اجـــراء کولو کې تاسو تقويت کوي.

آيا تاسو کولاشئ پوښتنوته ځواب ووایاست.

تش ځايونه ډک کړئ.

۱. 

سله ____ = سله ____ + سله ____

____ = ____ + ____

۲. 

____ سله ____ لسه ____ يودانه يې

____ سله ____ لسه ____ يودانه يې +

____ سله ____ لسه ____ يودانه يې

د قانون څخه په کار اخستني سره لاندې جدولونه بشپړ کړئ.

۳.

| ۲۰۰ جمع کړي | |
|---|---|
| ۲۲۰ | |
| ۶۷۰ | |
| ۵۱۰ | |
| ۱۷۰ | |

| ۴۰۰ جمع کړي | |
|---|---|
| ۵۰۰ | |
| ۳۵۰ | |
| ۴۳۰ | |
| ۶۷۰ | |

| ۳۰ جمع کړي | |
|---|---|
| ۷۳۰ | |
| ۸۷۰ | |
| ۱۹۰ | |
| ۴۲۰ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمع یې کړئ.

۴.

| سلیز | لسیز | یویز |
| --- | --- | --- |
| □ | □ | |
| ۶ | ۷ | ۳ |
| + | ۱ | ۹ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
| --- | --- | --- |
| □ | □ | |
| ۴ | ۲ | ۵ |
| + ۳ | ۴ | ۸ |
| | | |

| سلیز | لسیز | یویز |
| --- | --- | --- |
| □ | □ | |
| ۲ | ۷ | ۶ |
| + ۱ | ۴ | ۵ |
| | | |

۵. تفریق یې کړئ.

| سلیز | لسیز | یویز |
| --- | --- | --- |
| □ | □ | □ |
| ۸ | ۳ | ۷ |
| − ۲ | ۲ | ۵ |
| | | |

